# ځانځاني ښامار

## د هرچا په خپل ځان کې

(د ماسترۍ دورې لیکنې)

Ketabton.com

ارین یون

۱۳۹۴ لمریز کال

Downloaded from: ketabton.com

# ځانځاني ښامار
# د هر چا په خپل ځان کې

(د ماسترۍ دورې لیکنې)

لیکواله

**ارین یون**

**۱۳۹۴ل کال**

Downloaded from: ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: ځانځاني ښامار د هر چا په خپل ځان کې

لیکواله: ارین یون

خپروندی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

ډیزاین: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۱۲۰)

یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

Downloaded from: ketabton.com

# سریزه

پر (۱۳۸۷ل) کال زه د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د ماسترۍ له پروګرامه فارغه شوم. تر هغه د مخه د دوو کلونو په بهیر کې د یاد پروګرام هر محصل یا محصله مجبور وو ، چې د اړوندو استادانو له خوا په تدریسي مضمون پورې تړلې یوه موضوع د سیمینار په توګه انتخاب کړي. یاده موضوع وڅېړي او تحلیل یې کړي او بیا یې په ټولګي کې د استاد او نورو زده کوونکو پر وړاندې د سیمینار په بڼه وړاندې کړي. د موضوع په باب د استاد او محصلینو پوښتنو ته هم ځوابونه ووایي او د هغوی سپارښتنې هم وروسته په خپله لیکنه کې زیاتې کړي. دا څو لیکنې چې تاسو ګورئ په ماسترۍ دوره کې ما لیکلي دي. خو له هغه وخته بیا تر ننه (۱۳۹۴ل کال پورې) چې نږدې (اوه اته) کاله تېرېږي، ددې مجال پیدا نه شو چې دا لیکنې په منظم ډول چاپ کړم. البته دې سره څو نورې لیکنې هم وې چې په یاده تېره موده کې راڅخه لادرکه شوې. اوس چې د افغانستان ملي تحریک د (سلو عنوانو ) کتابونو چاپ ته اوږه ورکړې، له ما څخه یې هم هیله وکړه چې دا لیکنې ورته د یوې ټولګې په توګه ورکړم. ما هم له دې وېرې چې دا لیکنې له منځه لاړې نه شي او په دې نیت چې د ملي تحریک په فرهنګي کاروان کې مې د یوې

Downloaded from: ketabton.com

لاروی، پـه توګـه برخه اخیسـتې وي، دا ټولګـه مې د چـاپ لپـاره ملـي تحریک ته وسپارله. د لیکنو له منځه مې یوه لیکنه: (ځانځاني ښـامار د هر چا پـه خپـل ځان کې) د عنوان پـه توګـه ځکـه غـوره کړ چې اوس زمـوږ ټـول هېـواد او پـه مجمـوع کـې ټـول بشـریت د همـدې ځانځـاني ښامار د هوسونو په لمبو کې سوزي. دلته لازمه بولم چې د افغانسـتان ملي تحریک له فرهنګي څانګې او قـدرمن ورور حـاجي محمـد زمـان لغماني څخه ډېره مننه وکړم چې د دې ټولګې د چاپ لګښت يې برابـر کړ او هغه یې د لوستونکو تر لاسونو ورسوله.

په هېواد کې د فرهنګي غوړېدنې په هیله

په درناوي

ارین یون

په ولسي جرګه کې د ننګرهار د خلکو استازې

Downloaded from: ketabton.com

# په لرغوني پښتو ادب کې غزل

غـزل هغـه شعري فـورم دی چې د ځينو نـورو شـعري فورمـونو لکـه قصيده ، رباعي، قطعه، مثنوی، مسدس، مخمس او نورو په شان لـه عربي ژبې څخـه پښـتو تـه راغلـی دی، غـزل بـه يې پـه عربي ژبـه کې معمولاً هغـه ډول شعرونو تـه وايـه، چې تغزلي مسايل بۀ يې پـه کې بيـانول، لغـوي مانـا يې لـه ښځو سره شوخۍ تـه ويـل کېږي، غـزل د محتوا تر څنګ يو ثابت فورم دی چې ځان تـه خپـل جوړښت لري او نورو شعري فورمونو سره توپير لري، غـزل هغـه ډول شعري فـورم تـه ويل کېږي چې مطلع او مقطع ولري، د سر بيت ته يې مطلع او پـای تـه يې مقطع ويل کېږي، مطلع معمولاً ، مقفی بيت دی چې دواړه مسـرې يې قافيه والې وي، رديف پـه کې اختيـاري دی، د هر بيت دويمې مسرې يې بايد ضرور قافيـه ولري او د مطلع قافيـه تعقيب کړي، د بيتونو شمېر يې له پنځو او تر پنځه لسو څخه زيات نـه وي د مسـرو د څپو شمېر يې معمولاً سره مساوي وي، له ځينو خاصو حالتونو پرتـه، چې کېدی شي د بې قافيې مسرې يوه څپه زياته شي، نور د ټولـو مسـر د څپو شمېر يې برابر وي او که يوه څپه کمه يا زياته شي نو د غـزل وزن خرابېږي، د غـزل پـه مقطع کې شـاعر معمـولاً خپـل نـوم يـا تخلـص راوړي، پښتو ادب کې د غزل فورم په پوره مانا تـر اکبر زمينداوري د مخه نه دی ليدل شوی، البته غزل ته ورتـه نظمونـه شته خو بشپړ غـزل نـه دی، لکـه د شيخ رضی لـودي او نصر لـودي نظمونـه چې کـه مطلع يـانې مقفی بيت يې درلـودلای د غـزل فـورم تـه لوېدل خو اوس ورتـه

Downloaded from: ketabton.com

بشپړ غزل نه شو ویلای دغه راز د ابو هاشم ابن الزید سرواني له خوا د محمد ابن خلاد ژباړل شوی شعر هم د غزل فورم ته ورلوېږي خو بشپړ پښتو غزل همغه دی چې د اکبر زمیندا وري له خوا ویل شوی دی، د اتمې هجري پېړۍ د دوېمې نیمیاي په دوران کې د زمیداور په سیمو کې یو دیوان لرونکی شاعر تېر شوی دی، چې اکبر نومېده، دده دېوان څو پاڼې مرحوم لوی استاد پوهاند حبیبي د هلمند په سیمو کې پېدا کړې وې او چې کله یې د پښتانه شعراء لومړی ټوک ترتیباوه نو یې د اکبر د دېوان له پاڼو څخه ترلاسه شوي مطالب هم په دې کتاب کې چاپ کړل، د اکبر د دېوان دغه څو پاڼې د پښتو ادب لپاره دومره ګټورې تمامې شوې چې پښتو شعر او شعري انواعو په تاریخ کې یې یو لوی تحول راوست، د ده دیوان په دغو پاڼو کې د اکبر دوه ټوټې (مثنوي) هم خوندي دي، چې دا مثنوي د خپل خوږلنۍ تر څنګ د هنر مالګه هم لري او د استاد حبیبي په وینا اکبر د مینې د دنیا ډېر نازک حالونه او احساسات تصویر کړي دي، د اکبر د دېوان دغو لاس ته راغلو پاڼو کې د پښتو دوه غزلونه هم شته، غزل د شرقي شاعرۍ تر ټول غوره منلی شعري ډول دی چې د اکبر تر غزلو دمخه موږ په پښتو ادبیاتو کې بل غزل نه وینو. سملاسي که چېرې موږ په پښتو ادب کې د لیکل شوي غزل تاریخ لیکو نو اړ یو چې پیل یې د اکبر زمیندا وري له غزلو وکړو.

د اکبر غزل په تول پوره او د شرقي غزل کره وړه لري د اکبر یوه غزله پنځه او بله یې اووه بیتیزه ده، د شرقي شاعرۍ شعر پوهان عقیده لري چې د زیاترو شرقي ژبو د لومړنیو غزلو بیتونه لږ وو، او

Downloaded from: ketabton.com

تـر اوو بیتونـو یـې تجـاوز نـه کـاوه، ( د پښـتـو غـزل ) د کتـاب مولـف پرو فیسر افضل رضا پـه قـول د اکبـر د غزلـو ژبـه خوږه او خیـالات یـې ژور دي. د اکبر له دوو لاس ته راغلو غزلو څخه یوه دلته راخلو:

د خپـــل ځـــان لـــه حیرانیـــې څـــه ویـــل کـــړم
د عشـــق ویـــر بـــه تـــل پـــه خپلـــه پتـــول کـــړم
مـــا مـــدام لکـــه بـــورا پـــه ګلـــو ګشـــت کـــړ
اوس بـــه ځـــم پـــه سرتورســـرفراق د ګـــل کـــړم
د غمـــاز لړمـــون بـــه زه پـــه لمبـــه کېـــږدم
ځنـــې هېـــر بـــه دیـــار بـــزم ګـــل او مـــل کـــړم
زمـــا د یـــار د مینـــې اور پـــه زړه کـــې بـــل دی
زه بـــه ســـر او مـــال ښـندم دیـــد بـــه حاصـــل کـــړم
د ببلتـــون لـــه ویـــره ژاړم اوښـــکې وینـــې
زه اکبـــر د خپـــل اشـــنا د ســـر ښـــندل کـــړم

د پورتني غزل هندسي فورم په دې ډول دی،

a (قافیه) = (ردیف) دی

=a ______________________

=a ______________________

______________________

=a ______________________

______________________

=a ______________________

______________________

Downloaded from: ketabton.com

=a ____________________

____________________

=a ____________________

په پورته غزل کې(ویل، پټهول، ګل، مل، حاصل، ښندل) د قافیې کلیمې او (کړم کړم) ردیف دی، د هرې مسرې د څپو شمېر یې (دولس دولس) څپې دی، تر اکبر زمیند اوري وروسته پښتو غزل د روښانیانو او خوشال بابا په عصر کې ډېره وده وکړه، او په معاصر دوران کې حمزه بابا او نورو شاعرانو هغه ته نوره وده هم ورکړه، او اوس پښتو کې غزل هغه شعري فورم دی چې څوک فکر نه کوي، له عربي څخه راغلی شعر فورم به وي، غزل د پښتو په لمن کې دومره وده وکړه چې په عربې کې هم دوره زیات ځلېدلی نه دی. هر پښتون شاعر چې شعر لیکي لومړی تجربه د غزل په فورم کې تر سره کوي، غزل په حقیقت کې پښتو کې ځوان شوی دی:

ستا په اننګو کې د حمزه د وینو سره دي
ته شوې د پښتو غزله ځوان زه دې بابا کړم.

Downloaded from: ketabton.com

# په تذکرۀ الاولیا کې د لرغونتوب نښې

تذکرة الاولیا د پښتو لیکوال (سلیمان ماکو) اثر دی. په خپله سلیمان د بارک خان صابزي زوی دی چې د کندهار په ارغستان کې یې ژوند کاوه. د سلیمان ماکو له خپله قوله ((په سن دوولس شپږ سوه د هجري تللی وم او د پښتنخا په راغو او کلیو گرځېدم او مراقد د اولیا او واصلینو مې پلټل او په هر لوري مې کاملان موندل او د دوی په خدمت کې خاکپای وم او هر کله په سلام ورته ولاړ.

چې له دې سفره په کور کې کښېنستم او تنها کې مې وچاودلې د پښتو، بیا پاځېدم او له ځښتنه مې مرستون شوم چې احوال د هغو کاملانو وکاږم او دوی چې هغه ویناوې پاته کړي او پښتانه به لولي اوس.))

د سلیمان ماکو له پورته وینا څخه ښکاري چې ده په(۶۱۲هـ. ق) کې د تذکرة الاولیا د لیکلو تکل کړی دی او کېدی شي د څو کلونو په بهیر کې دی خپل دې مرام او هدف ته رسېدلی وي. خو د تذکرة الاولیا ټول متن په لاس کې نه شته یوازې څلور پاڼې چې (۷) ډک مخونه کېږي لوی استاد پوهاند علامه حبیبي تر (۱۳۱۹) کال دمخه په کندهار کې موندلي او د استاد حبیبي له خوا پر تذکرة

Downloaded from: ketabton.com

الاولیابانـدې د هـر اړخیـزې شـنني، تحلیـل، تجزیـې او تعلیقـاتو لـه مخې ویلی شو، چې تـذکرة الاولیـا پـه پښـتو نثر کې لـومړنۍ لاسـته راغلې تـذکره ده، البتـه تـر دې دمخـه د هاشم سروانې (د سـالو وږمـه) نوم هم په تحقیقي لیکنو کې راغلی، خو خپلـه ددې اثـر تراوسـه کومـه نسخه ترلاسه شوې نه ده، نو په دې ډول تذکرة الاولیا د پښتو ادبیـاتو د نثر او نظم او پـه تېره بیا د نثر ډېره پخوانۍ تذکره ده.

موږ چې کله په تذکرة الاولیا کې د لرغونتـوب نښـې ګـورو، تـر هـر څه لومړی پـه خپله همدا ((تذکرة الاولیا )) لرغـوني ده. ځکـه کـه تـر دې دمخه مـو بلـه تـذکره پـه لاس کـې لـرلای نـو بیـا بـه هغـه لرغـوني وه. خو اوس چې نه شته دا تر ټولو لرغوني ګڼل کېږي. پـه خپلـه بیـا پـه تـذکرة الاولیا کې د ((لرغونتوب )) د هغه وخت همځنګو ژبو او ادبیـاتو سـره ګډ خصوصیتونه، د ګاونډیو ژبو تاثیرات او نور مشابهتونه هم شـته. په تذکرة الاولیـا کـې داسې مـتن او د شعرونو داسې بېلګـې هـم شـته چې د نـورو ژبـو او ادبیـاتو لـه تـاثیراتو خونـدي پـاتې او همدارنګـه د پښتو ژبې د ځینو لرغونو ژبنیو جوړښتونو نښې نښانې په کې زیـاتې دي. دلته په لنډیز سره ددې تـاثیراتو، جلاوالي او لرغونتیـا تـه اشـاره کوو.

**۱- د عربي ژبې تاثیرات:** عربي د دین او مذهب ژبه وه طبعاً هغـه دیني او شرعي اصطلاحات او مفاهیم چې پـه عربي ژبـه کـې موجـود وو، دري او پښتو ته هم پـه همغـه بڼـه راتلل، معـادل لغتونـه او ترجمـه

Downloaded from: ketabton.com

يې تر ډېره حده هغه وخت ممکنه نه وه او آن اوس هم امکان نه لري. په خپله د سليمان ماکو له خوا چې په پيل کې کومه سريزه راغلې په هغه کې يو زيات شمېر عربي لغتونه راغلي دي، لکه ((حمد ، محمد مصطفی(ص) ، کونين، رحمت، ثقلين، ال، اما بعد ، غريب، هجري، خدمت، کامل، سلام، سفر، احوال)) او نور په خپله د تذکرة الاوليا اصطلاح هم عربي ده. له دې تاثيراتو څخه ښکاري چې عربي ژبې دا وخت خپل خاص مذهبي، علمي او درباري تاثيرات درلودل، نه يوازې پښتو، بلکې فارسي لا ډېره د عربي تر اغېزې لاندې وه. په غزنوي دوره کې چې د فارسي نثر متن مطالعه شي او آن تر هغه دمخه دورې عينې تاثيرات ليدل کېږي. نو دلته سړی ويلی شي چې پښتو ژبه او خپله شخصاً د سليمان ماکو خپل نثر د هغه وخت د عربي ژبې خپل خپل تاثيرات زغملي وو.

۲- د فارسي ژبې اغېزې: د عربي ژبې ترڅنګ د فارسي ژبې او د نثر ليکنې لرغونې تاثيرات هم څه ناڅه د سليمان ماکو په نثر کې شته، له دې څخه دا ښکاري چې سليمان ماکو هغه وخت د پښتو د مروجو ادبياتو د مطالعې ترڅنګ د فارسي ژبې او ادب مطالعه هم لرله. د فارسي ژبې نثر د سليمان ماکو تر نثر نږدې دوه سوه کاله دمخه يو ښه شانداره مرحله تېره کړې وه، دا داسې يوه مرحله وه چې فارسي نثر په کې ډېر روان، سليس او خوندور دی او له هر فاعل سره يو فعل، لنډې او مختصرې جملې لري چې دا کار د پښتو له عامې

Downloaded from: ketabton.com

محاورې سره ډېر اړخ لګوي. فارسي نثر بیا د مغلو په دوره کې تصنعي، تکلفي او مغلق شو او هغه پخوانی خوند او رنګ یې بایلود.

د سلیمان ماکو تر نثر وروسته پښتو نثر د پیر روښان او اخوند درویزه په وخت کې چې یو د مغلو مخالف او بل یې موافق و، بې خونده، پیکه او پېچلې شو او د نورو ژبو لکه عربي او فارسي تر زیات اغېزو لاندې راغی. د سلیمان په نثر کې لاندې فارسي کلمې تر سترګو کېږي.

درخواست، سپاس، خاکپای، خدای، مهربان، روزګار، بزرګ، بادار او ځینې نورې.

د لغتونو ترخنګ په تذکرة الاولیا کې داسې ګرامري جوړښتونه شته چې د فارسي ژبې له ژبني جوړښت سره یوشان ښکاري، دا خبره له باوره ډېره لرې نه ده چې سلیمان کېدی شي د دیني او ادبي زده کړو له لارې د فارسي ژبې تاثیرات زغملي وي او یا هم کېدی شي د هغه وخت د پښتو لیکنۍ ژبې همدا جوړښت درلود. د سلیمان ماکو د نثر ځانګړتیا په دې کې ده چې لکه د فارسي ژبې د ګرامري جوړښتونو له امله فعل تر فاعل دمخه راځي، یا مضاف تر مضاف الیه دمخه راوړي، لکهه ((مراقد د اولیا او واصلینو مې پلټل)).

Downloaded from: ketabton.com

که په فارسي کې وويل شي ((مراقد اوليا و واصلين را ميپاليدم... )) نو د فارسي ژبې له ګرامر سره اړخ لګوي، خو د پښتو اصلي ګرامر يا عادي محاوره دا ده چې نوم فاعل يا هم مضاف اليه اول راځي بيا يې متعلقات فعل يا هم مضاف. د پښتو د ګرامر په تېره بيا د اوسني شکل له مخې بايد دا جمله داسې واى.

(د اولياوو او واصلينو مراقد مې پلټل).

او تناکې مې وچاودلې د پښو = د پښو تناکې مې وچاودلې

زه غريب خاورې سليمان زوى = زه غريب خاورې سليمان د بارک خان ماکو سابزي زوى

او هرکله به ويل ورور ته = او هرکله به يې خپل ورور ته ويل

او داسې نورې جملې چې فعلي حالت تر فاعلي حالت دمخه واقع شوى دى، خو د پښتو اوسنى ګرامري جوړښت داسې دى چې اول فاعل بيا مفعول يا اول مبتدا او بيا خبر راځي.

پر دې تاثيراتو سربېره چې دا هم تذکرة الاوليا لرغونتيا ښيي په خپله د تذکرة الاوليا نثر دومره ساده، خوږ او په ساده روانه پښتو ليکل شوى دى چې د مانا ابهام په کې هېڅ مطرح نه دى، نثر تکلفي او تصنعي نه دى او بېچلتيا نه لري. د روښانيانو او راوروسته حتى په معاصره پښتو نثر کې مو‌ږ د نثر دواړه بېلګې لرو، هم ساده، روان او خوږ او هم پېچلي، تکلفي او تصنعي نثر.

Downloaded from: ketabton.com

په دې ډول که موږ د سليمان ماکو نثر د لرغونتيا له مخې ارزوو، نو په هغه کې د لرغونتيا څو غتې نښې ګورو.

يو دا چې ګرامري جوړښت يې د پښتو له معاصر ګرامري جوړښت او د پښتو معاصرې محاورې له ژبې سره پوره تطابق نه کوي. يانې مبتدا او خبر فاعل او فعل يې سره وړاندې وروسته دي، لکه مخکې مو چې ورته اشاره وکړه. دويم دا چې په خپله د سليمان ماکو په نثر کې ځينې داسې سوچه پښتو کلمې شته چې د هغو اکثره اوس هم د استعمال وړ دي، خو ځينې داسې سوچه کلمې شته چې اوس د وخت په تېرېدو سره متروکې شوي او يا په هغه بڼه نه استعمالېږي، يانې چې ځينې اوس نه استعمالېږي او ځينې يې اوس هم په هغه شکل کارول کېږي. لکه استازی، روښان، پايږم، راغو، کلی، پلټل، لوری، موندل، تنهاکې، چاودل، پاڅېدل، څښتن، کاږم، پېژندګلوه، ډبره، کاله او داسې نور چې اوس هم په همدې شکل او مانا کارول کېږي.

خو داسې کلمې هم شته چې اوس يا متروکې شوي او يا يې بڼه اوښتې ده لکه.

ګڼون= شمېره، دښنه= دښمن، مرستون = مرسته غوښتونکی، ملا= مل، ملګری، جوبله= جنګ، ايواد= هېواد، کتهارو = چړو تورو.

په تذکرة الاوليا کې د سليمان ماکو په خپل نثر کې پر سوچه لغتونو سربېره د اکثرو شاعرانو شعرونه له څو ګوتو پر شمار کلمو څخه پرته نور ټول په نږه پښتو ليکل شوی دی، لکه، د بيټ نيکه حمد

Downloaded from: ketabton.com

چې ټولې کلمې يې پښتو دي، يا هم د ملکيار بابا پاړکی چې يوازې د ((غازي)) کلمه په کې عربي ده.

د شيخ اسماعيل په شعر کې يوازې د ((ابليس)) کلمه عربي ده او د قطب الدين بختيار شعر خو ټول له پښتو کلمو جوړ دی.

همدا شعر د تذکرة الاوليا د لرغونتيا د يوې بېلګې په توګه په بشپړه ډول رانقلوم:

ويـر مې زړه سوری سوری کړ — راتـه وګـوره مـلـوکې
پـه بـېلتون کـې دې وبـاسم — له خوږمنه زړګي کوکې

راته وګوره ملوکې
راته وګوره ملوکې

د بـېلتون اورونـه بـل دي — هر ګړی مې زړګی سوځي
لـېونـی يـمه د مـــينې — سوځم زه لکـه پـېلـوځي

راته وګوره ملوکې
راته وګوره ملوکې

غـوړولـی دې اوربـل دی — اور زمـا پـه زړګي بل دی
زه بختيار خاورې ايرې سوم — په اور سوی مې ګوګل دی

راته وګوره ملوکې
راته وګوره ملوکې

Downloaded from: ketabton.com

# ((ځانځاني ښامار))

## د هر چا په خپل ځان کې

((ځانځاني ښامار)) د مرحوم استاد سيد بهاوالدين مجروح يو خورا مهم ادبي او فلسفي اثر دی، چې د پښتو نظم په چوکاټ کې يې ترتيب کړی دی. په دې اثر کې د انسان ذاتي او نفسي غوښتنې تحليل او څېړل شوي دي. د کتاب له ګڼو هدفونو څخه يو مهم هدف دا دی چې که انسان خپل نفس په خپله کنټرول نه کړي، نو د نفس له دې چينجي څخه لوی ښامار جوړېږي او په خپله د انسان له ژوندانه څخه راچاپېرېږي او هغه تباه کوي. دا اثر په (۱۸۸) مخونو کې چاپ شوی او يو اوږد منظوم داستان دی، خو زه يې دلته په ډېر لنډيز سره شکلي او محتوايي نچوړ وړاندې کوم:

په پيل کې د يوه عالم د خولې کيسه راخلي چې د يو ورک سمندر غاړې ته ناست دی شبه او ورځ د جهان رمزونه او رازونه لټوي، عالم يوه ورځ وايي:

((تر کوم وخته چې دا ځمکه او اسمان وي – تل د هر انسان دوزخ به بل انسان وي.))

Downloaded from: ketabton.com

دی وايي:

د صحرا له طوفانو مې بېره نه وه

نه تشويش د سمندر لويو څپو نه

ډاريدم زه،

د خپل زړه په ژور تل کې

له ښاماره.

دی د هغه ښار ښاريانو ته حيران دی چې ښامار پرې واکمن دی او دوی يې پر ضد نه پاڅېږي. په لومړي څرخ کې بيا د تور ښامار کيسه ده چې څنګه د مرګ پر لوري ځي او د لاروي له خولې د هغه ښار کيسه راځي چې ټول ښاريان يې رنځوران دي. دا لاروی د ښار کيسه داسې پيلوي:

لاروی د نيمو شپو وم

هلته ناست د سمڅې خولې ته

هک حيران وم

نږدې هلته

ښکاريده رنګ د يو الونه

کنډوالې وې د کوم زوړ لرغوني ښار

Downloaded from: ketabton.com

لاروی په دې پړاو کې د ښار خلکو ته خپله تېره ماضي وریادوي، هغه وخت چې ښامار پر دې ښار واکمن نه و او دلته پسرلي د نوبهار الهه واکمنه وه او د خلکو ترمنځ مینه او محبت و، چا غلامي نه پېژنده، خو کله چې د جهان د لوی فاتح واکمني پیل شوه هر څه په غم بدل شول، لوی فاتح خلکو ته داسې خطاب ورکړ:

(( تاسو وایاست زه به څوک یم !

درست نړۍ کې پهلوان یم،

لوی فاتح د ټول جنګونو د جهان یم

له دې وروسته ستاسې ښار زما تابع دی

تاسې ټول د قهرمان تر فرمان لاندې

که هر څوک زما فرمان ته غاړه نه ږدي

نو سزا به یې په دې دم او په هر دم

هم په دې نېزه وژل وي، څیرول وي

دې سره نو د ښار خلک د قهرمان تابع شول، د هغه ستاینې به یې کولې، معبد یې جوړ شو او خلکو به یې پرستش کاوه.

خو لاروي به خلکو ته دا پیغام رسوه:

رهبانانو راشئ واورئ دا بیان

Downloaded from: ketabton.com

له رمزونو نه خبر شئ پټ پنهان

زمامدار زموږ لېوه دی

لکه وینو ته چې تږی وي د غرو رغو لېوان

زړه يې کلک لکه تور کاڼي د بيابان لکه سندان...

د ښامار پر ضد د لاروي پيغامونه ورو ورو د ښار خلکو کې خوربدل، لاروی به چا لېوني او چا مجنون باله خو ورو ورو د ښامار په زړه کې وېره پيدا شوه، هسې نه چې دې لاروي کې څه فساد نه وي.

نو لاروی (مجنون) او د نوبهار الهه (ليلی) چې د ښامار تر راتګ د مخه د ښار واکمنه وه، خپل دربار ته راغواړي او پوښتنې ترې کوي. لومړی لاروی يا مسافر ته مخ را اړوي او په ترخه اواز ورته وايي:

((ای پردېسه مسافره !

چې د بل پردي هېواده يې راغلی

په دې ښار کې اوسېدلی

موږ به پناه تا ته درکړې

زه خو اورم چې ته خلک رابلې تل،

چې د خپل پلرو نيکونو معبد پرېږدي

پخوانی دود رواجونه کړي همه تر پښنو لاندې

Downloaded from: ketabton.com

د زړو خپلو پخوانیو عقایدو نه لاس واخلي

او ددې ګدايي ګرې نا اشنا پېغلې پرستش ته غاړه کېږدي

دا رښتیا ده؟))

لاروی ورته ځواب ورکوي:

((ای د کل جهان باداره فرمانداره

ستا معبد خو نوی نوی نو بنا دی

نه يې کلک نه يې پاخه دي دېوالونه

نه ژور نه مستحکمه تهدابونه

ددې سيمې رښتينۍ اصلي واکداره

رب النوعه د بهار وه، الهه د عشق او مينې،

په دې ځای کې مېشته خلکو،

د هغې ښکلې دلدارې پرستش کړو

هر هر لوري، هرې خواته هر هر ځای خو

د هغې د قدم ځای و.))

لاروی خپلو خبرو ته دوام ورکوي او وايي چې دا پېغله (ليلى) همغه الهه ده. لاروی واکمن ته وايي چې ستا په زړه کې واهمه ده او د ښار خلک که ستا له دې واهمې څخه خبر شي، نو ستا اطاعت او

Downloaded from: ketabton.com

عبادت نه کوي، واکمن په زړه کې ډېر وارخطا کېږي خو لیلی او مجنون (پېغلې او لاروي) ته څکه څه نه وایي چې په ښار کې شور ماشور جوړ نه شي، نو د ستر واکدار په زړه کې نور هم وهم او ترس زیاتېږي. دا داسې وخت دی چې د ښار په خلکو کې د لاروي پیغامونه نور هم قوي شوي او د واکدارو هم نور هم زیات شوی. په همدې وخت کې یوه زړه بوډۍ چې د تورو لوګیو جامې یې اغوستې وې د ستر واکدار ماڼۍ ته ورننوزي. د بوډۍ کیسه داسې ده:

فقط یوه ورځ، چې ماښام شو توره خړه،

راپیدا شوه له کوم ځایه،

را راوانه پټه پټه غلې غلې،

یوه ناشنا زړه بوډۍ وه.

د ښار لویې دروازې ته ودرېدله.

څېره بده هم مرموزه،

هیولا وه بد منظرې

تور کمیس تور یې پرتوګ تور یې زړوکی د لوګي و

د ښار لویه دروازه شوله برسېره په خپل سر له خپله ځانه

بوډۍ ننوته ښار ته

د هغې لویې ماڼۍ په لورې لاړه

Downloaded from: ketabton.com

خو ناشنا شانته بوډۍ وه

بې له دې نه چې قدم پر ځمکه کېږدي

د ښایسته زینو نه وختله پورته

بې له دې نه چې کوم مکث یا توقف کړي

د مرمرو جګو ستنو نه شوه تېره

د ښایسته ځلانده قصر دروازې ته ودرېدله

دې بوډۍ بیا ،

نه زنځیر د دروازې وشرنګولو نه یې ور وټکولو ،

ور برسېره په خپل سر شو

بوډۍ لاړه شوه په قصر کې دننه

دا بوډۍ خو لاروي سره اشنا وه ، لاروي ښه پېژندله.

لاروی ښه پوهېدلو چې بوډۍ ولې راغلې

او دا اوس په هغه قصر کې دننه

د بوډۍ او د واکدار په منځ کې څه خبرې کېږي

څه موده لا تېره نه وه ،

چې راووتل دوی دواړه ،

Downloaded from: ketabton.com

د مانۍ له کنډوالو نه، د لوی ښار له خرابو نه،

بوډۍ مخکې قهرمان تر شا روان و

لاړل لاړل کومې خواته نامعلومه...

###

دا هغه مهال دی چې نور پر ښار د واکدار واکمني پایته رسېږي او ښار ته بېرته د نوبهار الهه راګرځي او د ژوند څرخ تاوېږي. نوره کیسه داسې ده:

مجنون پاتې حال ویجاړی هلته ناست و

د خپل ښار په کنډواله کې

د عالم په تماشه و

د زمان دفتر برسېره ورته پروت و،

له اغازه تر انجامه،

د عالم صفحه یې مخې ته خپره و،

له ذرې تر کهشکانه

هم ماضي او مستقبل غاړه غړۍ وو،

د هغه حال په شپه کې

شپې او ورځې تېرېدلې،

Downloaded from: ketabton.com

بیا راتلل میاشتې کلونه،

یو پر بل پسې پیهمه.

هم فصلونه، موسمونه را راوان بېرته روان وو.

###

تر ځو شپه یوه د شپو وه،

لاروی په کونج کې ناست و،

د افق تورې لمنې ته یې کتلې

یو ناڅاپه ورښکاره شوې، هلته دورې،

رڼاګانې زیاتې، زیاتې، په تورتم کې ځلېدلې

دی راپاڅېده له ځایه، په رڼا پسې روان شو

ټوله شپه یې مزل وکړ

چې سبا شو سپین سبا شو،

لاروی د یو سیند غاړې ته نږدې شو

سیند اوار ډک بهېدلو

د سیند غاړې وې ابادې

چمنونه شنه پراته وو، سره ګلونه غوړېدلي

ښکلې مېنې رنګارنګه په کې هر طرف ولاړې

Downloaded from: ketabton.com

باغ او بڼ کې د مرغانو شور ماشور و

پېغلې نجونه ښکلې ښکلې

ښه ځلمي ښایسته ځوانان وو ،

ځینې ځینې د خپل ښار په ابادۍ بوخت،

ځینې نور بیا ،

د ښایسته پېغلو سره ناست په راز او نیاز وو ،

محبت و صفایي وه، ښکلول وو زغلول وو ،

مرکې وې مشورې وې

ماشومان د سیند په غاړه لوبېدل ټول،

شور ماشور و غلغلې وې

او بیا هغه ناشنا پېغله

زوړ کمیس څیرې ګرېوانه،

ګرځېدله خرامانه،

شین کمیس نری شفاف یې و په تن کې نوی نوی

د وحشي ګلونو تاج یې پاس په سر پروت

د بهار وږمې په شانې الوتله

Downloaded from: ketabton.com

د ښتونو غرڅنۍ ورته راتللې،

لاروي د نیمو شپو چې دا حال ولید ،

بې اختیاره په خندا شو

څکه پوه شو ،

چې له سره بیا شروع شو ، یو ځل بیا بیا ،

زوړ داستان د قهرمان ستر پهلوان ستر ،

او د ښکلې رب النوعې الهې د عشق او مینې

یو ځل بیا له سره پیل شوه،

افسانه لویه اوږده د تور ښامار مار.

Downloaded from: ketabton.com

# تاریخ مرصع او ځو نومیالۍ پښتنې بیبیانې

تاریخ مرصع په پښتو کې هغه مهم تاریخي کتاب دی چې بېلا بېل تاریخي، سیاسي ټولنیز، ادبي، دیني او نور بشري مسایل په کې ځېړل شوي دي.

دا کتاب د پښتنو د نومیالي مشر، ملي اتل او ستر لیکوال خوشال خان ختک د لمسي (افضل خان ختک) تالیف دی، چې په (۱۱۳۲) هـ. ق کې بشپړ شوی دی.

په تاریخ مرصع کې د نورو سیاسي، اجتماعي او فرهنګي شخصیتونو ترڅنګه ځینې پښتنې مېرمنې او بیبیانې هم معرفي شوي دي چې د ځینو یې په ځنګزنې توګه یادونه شوې او د ځینو یې د نورو شخصیتونو د یادونې ترڅنګ نوم اخیستل شوی دی.

په تاریخ مرصع کې د ښځو د معرفۍ اهمیت په دې کې دی چې دا ثابتوي چې لیکوال په دقت سره د مهمو شخصیتونو ثبت او معرفۍ ته متوجه شوی او هغه یې له بېلا بېلو منابعو (ماخذونو) څخه چاڼ کړي، خپل معلومات یې هم ورسره یوځای کړي او بیا یې په خپل تاریخي اثر کې خوندي کړي دي. په تاریخ مرصع کې هغه ښځې د یوې ځانګړې ضمیمې په توګه معرفي شوي چې عابدې او پرهېزګارې ښځې وې او ټول ژوند یې د خدای عبادت ته وقف کړی و، دا ((د برخو مېرمنې پښتنې بیبیانې)) تر عنوان لاندې معرفي شوي دي چې ټولې پنځه عابدې او متقي ښځې په دې برخه کې معرفي شوي دي چې دلته یې په ترتیب سره درپېژنو:

Downloaded from: ketabton.com

## ۱- عصمت پناه بي بي:

دا يوه عابده، پرهېزګاره او دينداره ښځه، په يوه پرهېزګاره کورنۍ کې زېږېدلې وه.

دې بي بي ټوله ورځ په روژه او شپه په عبادت تېروله، په تاريخ مرصع کې ددې په باب وايي:

((عصمت پناه بي بي دويه لور د شيخ سليمان د انا خور د شيخ ملهي قتال، په عبادت رياضت او مجاهدت کې يې ډېر لوی شان درلـه او د ورځې به روژه په خوله او د شپې به په لمانځه ولاړه وه. او دعا به يې قبلېده د ښو بدو په باب به يې چې هر څه په ژبه تېر شول په درنګ ساعت کې به ښکاره شول او چېرې به په عکس نه شول، عجيبه کرامتونه ترې ظاهر شوي دي.))

## ۲- بي بي راسته:

دا هم يوه دينداره او پرهېزګاره ښځه وه، د خدای په مينه کې ډوبه وه، دعا به يې قبلېده، تاريخ مرصع ددې بي بي د تعارف تفصيل داسې راکوي: (( ذکر د عفت دستګاه بي بي راستي چې د خواجه يحيی له نمسو او د خواجه ويس سرواني کورودانه وه، د وينا مېرمن او له ځانه ورکه وه او هر وخت ((د خدای په مينه کې)) لېونۍ او ډوبه وه. او اکثر به پرې حال غالب و او د دنيا په معاملو يې هېڅکله وتنه نه وه. خواجه ويس له دې قبله چې د هغې احوال ترې بيل و دريښم، پلوريو له يوه جينۍ وکړله او له (عام) وګړي او هم له بي بي يې دا خبره پټه درله. تر دې چې اخر پس له څه مودې جوته شوه. خو د بي بي

Downloaded from: ketabton.com

په اطوارو کې یو بکس خفګان هم پیدا نه شو.)) تاریخ مرصع دغه راز ددې مېرمنې د کراماتو نورې کیسې هم رانقل کړې دي.

## ۳- بي بي شیغزادي:

دا هم یو عابده، دینداره او پرهېزګاره مېرمن وه چې ټوله توجه یې د خدای عبادت ته وه او بس.

تاریخ مرصع ددې عابدې بي بي په تعارف کې وایي: ((دا هم د خواجه یحیی کبیر له نسه او د میان ترمان ولـه میان د وداسیداني پـه نکاح وه. ډېره رسېدلې عبادت ګزاره او روژه داره وه او د دنیا پـه معاملو یې وتنه نه وه. ښښتن یې ډېره نمانځنه کړه او چې پـه هغې حال ډېر غلبه شو. نو میان ترمان بله ارتینه وکړه او له بي بي یې پټوله. یوه ورځ میان ترمان د بي بي پـه خدمت کې ناست و، ورته یې وویل چې ترمانه زه دې ناست وینم ودره. میان ترمان یې له خدمته پاڅېد او پلار میان دودالره تللی لـه بي بي ځي خفګان او ګیله وکړله چې دا شان ناځاپه وینا یې راوکړله. میان دودالره وپوښتلو چې ترمانه ګوندې بله ارتینه دې کړې ده. ودوې ویل هو، وې ویل ښه ونه شول ډېر بد دې وکړل چې بې د بي بي د رضا دې هسې چار وکړه. څو ورځې پس ترمان هسې ناروغه شو چې د مرګ خواست یې وکړو. دغه خبر یې پلار دودا ته ښکاره کړه او د مرګ خواست یې وکړو. هغه ورو وویل چې ترمانه له خدایه مې غوښتي دي چې سره د ایمانه ګور تـه لاړ شې. د پلار لـه خدمته د بي بي په ملازمت راغی او هغې ته یې هم وویل چې پـه حقله یې دعا وکړې چې خاتمه یې په خیر شي. وې فرمایل چې خدای تعالی به دې ایمان روزي کړي څو ورځې پس میان ترمان په حق ورسېد.))

Downloaded from: ketabton.com

## ۴- بي بي صورت:

د پښتنو بيبيانو په لړ کې بي بي صورت هم يوه ډېره نامداره عابده او پرهېزګاره ښځه وه چې دنيا يې ترکه کړې وه او ټول ژوند يې د خدای د رضا لپاره عبادت ته وقف کړی و.

افضل خان خټک په تاريخ مرصع کې ددې بي بي په باب داسې وايي: ((ذکر د دوران د هغې صالحې او د زمانې د ساجدې بي بي صورت لور د ملک بستان کاکړ نيکه د ميان هيبت خان چې د دغه تاريخ د ليکنې باعث دی. هرکله چې بي بي صاحبه د پوهې عمر ته ورسېده، نو قران او د فقهې څو کتابونه يې ولوستل او د شرعي مسلو په علم کې يې هغه وخت مثال نه و. د هغه وخت ارتينو به ټولې مسلې هم له هغې پوښتلې. اکثر خپل خپلوان به يې د غوښتنو په نيت راتلل. خو هرکله چې والدې شريفې به يې وليدل چې په تلاوت او خپل شغل مشغوله ده، نو دې خبرو ته يې پام نه کړو او خپله لور يې د چا په نامه نه کوله.

دا بي بي دومره د خدای په عبادت بوخته وه چې ترپايه يې چا سره واده ونه کړ او ټول ژوند يې د خدای پر عبادت تېر کړ. دا ښځه دومره عابده او په خپل نفس حاکمه وه چې د پلار په ميراث کې پاتې ټولې پيسې او پانګه بېوسو او مسکينو خلکو ته ورکړه او ځانته يې هېڅ هم پرېنښودل.

## ۵- بي بي معذوبه مولهه:

دا بي بي هم يوه عابده، پرهېزګاره او خدای په مينه مسته بي بي وه، هره خبره او عمل به يې د عرفان او حقيقت په لاره برابره وه.

Downloaded from: ketabton.com

تاریخ مرصع کې یادونه راغلې ده.

((ذکر د عفت ایات معذوبې مولهې: چې د عرض اشیاني اکبر پاچا د پاچهۍ په زمانه کې د کیتهل د پرګنې له کلیو په یوه کې ښکاره شوه او تل به مجذوبه او مولهه (شیفته، او عاشقه) او لېونۍ او بې خوده او بې شعوره وه. هر کله چې به د رحمت باران وربېدلو خپلې سترګې به یې اسمان ته وازې نیولې او تر ځلورو پینځو ورځو به حیرانه بې خوده ولاړه وه او بانه به یې نه خوځول. او له بارانه، باده او تندر به هېڅکله نه رنځېده او بیا به چې په خپل وړومي حال راغله هم همغسې مستانه به ګرځېدله او هره خبره به یې چې کړه عین له عرفانه او حقیقته به وه.))

دا و په تاریخ مرصع کې د ځینو پښتنو بیبیانو یادونه چې موږ دلته په لنډیز سره معرفي کړې.

Downloaded from: ketabton.com

# د خوشال په یو غزل کې اخلاقي پندونه

لکه څنګه چې ټولو ته څرګنده ده خوشال بابا يو هر اړخيز شخصيت دی، دا سې يو شخص دی چې د بغاوت په وخت بغاوت کوي، د جنګ په وخت کې جنګ، د عبادت په وخت کې عبادت، د بزم په وخت کې بزم، د رزم په وخت کې رزم، د ښکار په وخت کې ښکار او د پيکار په وخت کې پيکار. طبيب، شاعر، ښکاري، پوځي، قومي، ملي، اخلاقي، روحاني لنډه دا چې يو جامع شخصيت و.

د بابا د شخصيت په هر اړخ چې څوک څېړنه پيل کړي نو دا شخصيت دومره وړانګې لري چې که بل خوشال نه شته يوازې همدا خوشال دی، خو چې بل اړخ ته متوجه شې نو بيا خو فکر کوې چې دا خو بل خوشال دی. کله چې د بابا منظوم او منثور اثار او د هغه د ژوند تاريخي سير ګورو، نو له بابا څخه موږ ته ډېر زيات او ګڼ شمېر نصيحتونه، پندونه او اخلاقي لارښوونې پاتې دي.

که چېرې څوک د خوشال بابا اخلاقي پندونه او نصيحتونه تعقيب کړي او هغه بيا پر ځان عملي کړي، نو پوره يقين دی چې يو بشپړ روحاني او اخلاقي شخصيت به ورڅخه جوړ شي.

Downloaded from: ketabton.com

د بابا په کلام کې د ګڼو پندونو او نصیحتونو له جملې څخه به یو غزل د بېلګې په توګه چې له غوره اخلاقي مرغلرو څخه مالامال دی راواخلو.

ددې غزل مطلع ده:

ښه سړی د چا په بدو نظر نه کا

که څوک بد ورسره کاندي دی به ښه کا

دا غزل په یو اخلاقي ایډیال پیلېږي، ښه سړیتوب اسانه کار نه دی، خوشال ورته په خپل دستارنامه کې شل هنرونه او شل خصلتونه ټاکلي دي. دلته هم ده د ښه سړیتوب لپاره څو معیارونه ټاکلي دي.

یو دا چې ښه سړی چاته په بد نظر نه ګوري زړه کې صاف وي او دویمه خبره دا ده چې که څوک ښه سړي سره بد هم وکړي، نو دی یې بېرته په بدو غچ نه اخلي، بلکې ښه سړی هغه دی چې د بدو په مقابل کې ښه وکړي، دا نو ډېر لوړ اخلاقي معیار دی.

خوشال بابا دا لوړ اخلاقي معیار یوې ثمر لرونکې ونې سره تشبه کوي او وایي هغه ونه چې مېوه لري هر څوک یې په کاڼو ولي، خو هغه ونه پر خپل ځای ولاړه وي او پر چا ګوزار نه کوي، بلکې مېوه ورکوي.

Downloaded from: ketabton.com

پــه بــارداره ونه تل وربږي کاڼي

ورته ګوره چې بارداره ونه څه کا

پــه همـدې خـاطر خوشـال بابـا خلکـو تـه د اخلاقـو او زغـم توصـيه کوي، که څه هم دا يو مشکل کار دی.

خوشـال بابـا وايـي چې دا دنيـا خـو تېرېـدونکې ده، بايـده دي چـې غوسه، کينه او نورې دعـوې ټولې پرېږدو، کـه سرې مـرګ تـه متوجـه شي، نو واقعاً به کينې خوشې کړي.

د جهان کـينې غـوسې واړه تـــر شا کا

که سړی په وخت د قهر مرګ تر زړه کا

خوشـال بابـا انسـان لـه ځـان خوښـونې، ځـان ښـودنې، ځانپـالنې او خود بينۍ څخـه جهـان خوښـونې تـه رابـولي او وايـي کـه څـوک لـه ځانـه رابېل شي او د جهان په فکر کې شي نو بيا به د جهان ننداره وکړي.

خوشـال بابـا ددې خبـرې د اثبـات لپـاره ((لېمـه)) د مثـال پـه توګـه راوړي چـې هغـه ځان تـه نـه ګـوري نـو ځکـه ټـول جهـان ورتـه ښـکاري، انسان هم بايد همدغه مثال خپل کړي.

دا په دا چې خودبيني ورڅخه نه شته

د جـهان نـنداري ځـکه دوه لـېمه کا

Downloaded from: ketabton.com

خوشـال خـان کينـه او حســد د انســان د تبـاهۍ ســببونه ګڼـي او اروا پوهـان هـم دا خبـره تائيـدوي او وايـي چـې کينـه او حسـد انسـان وجود ته د زهرو په شان مضر او خطرناک دي، خوشال بابا وايي:

**په کينـه پـه حسد هېڅ د چا ونـه شي**

**هر سړی چې حسد کاندي ځان اوبه کا**

خوشال بابا وايي او پ۷ دې خبره ټينګار هم کوي چې سړی بايد همېشه د ښو او نېکو خلکو نصيحت ته غوږ کېږدي او د بدو خلکو پر خبرو عمل ونه کړي.

**نصيحـت د نـېکو ښـه دی نـه د بدو**

**کم بختان به بد فعلي د چا په خوله کا**

خوشـال بابـا وايـي چـې خدای پـاک شـخص تـه د ښـو بـدو اختيـار ورکړی دی، هر شخص د خپلو اعمالو مسول دی.

**و سـړي تـه يـې اختـيار ورکـړ هوښياره**

**که په هره چار کې خدای واړه خپل کړه کا**

خوشال بابا وايي چې د وخت قافلې تېرېږي، د هر چا خپل کـار دی چې له وخت څخه ښه ګټه پورته کوي او که نه، ښه کارونه کوي کـه بد، همدا عمل به يې د لارې مل وي.

Downloaded from: ketabton.com

**ورځ او شپه په لار رواني قافلې دي**
**نېك و بد د قافلې په لارې تله كا**

خوشال بابا وايي چې له دنيا څخه سفر يوازې دی، هر څا سره به يې خپل عمل ملګری وي، ښه عمل د لارې تر ټولو ښه ملګری دی او له خپل عمل پرته نور هېڅوک تاسو سره په لاره کې نه مل کېږي، نو بايده دي چې خپل عمل ښه کړو.

**يك تنها په لارې تلنه ده خوشاله**
**په داهسې لار څوك څه د لارې مله كا**

دا و له اخلاقي پندونو ډک د خوشال بابا يو غزل، د خوشال بابا شاعري له داسې نورو پندونو او نصيحتونو ډکه ده چې که څوک يې په دقت سره ولولي نو د اخلاقي جرئت، قوت او پاکۍ سبب به يې شي.

Downloaded from: ketabton.com

# د خوشال په غزل کې بزم او رزم

خوشال بابا په پښتو کې د بزم او رزم یاد توري او قلم د خاوند شاعر په توګه مشهور دي، چې په اکثرو شعرونو کې یې دا دوه عناصر ډېر ځلېدلي دي.

په پښتو کې نور داسې شاعران هم ډېر دي، چې یا یې په بزم کې شاعري کړې او یا هم په رزم کې او یا هم په دواړو کې.

خو خوشال په دې برخه کې تر هر چا زیات کار کړی دی او تر بل هر شاعره زیات مطرح دی.

خوشال لومړنی شاعر و چې په زیاته کچه یې له عربي ژبې څخه راغلي شعري فورم (غزل) له پښتني چاپېریال سره غاړه غړی کړ، ده د غزل په خپل دودیز مفهوم د غزل (تغزلي) مانا او رنګ هم وساته او د پښتني چاپېریال ځانګړنې، رزم، ملتپالنه، مېلمه پالنه، غیرت او ننګ یې هم ورسره مل کړل.

په حقیقت کې همدا خوشال بابا و چې پښتو غزل ته یې د بزم ترڅنګ د رزم رنګ هم ورکړ. او په یو واحد شعري فورم کې یې دا دواړه عناصر په موازي ډول شامل او تضمین کړل.

له نورو شاعرانو سره د خوشال بابا تفاوت په دې کې دی چې اکثرو شاعرانو د خپل یو واحد غزل زیاته برخه یا بزم یا هم رزم ته بېله کړې، خو د خوشال بابا ځانګړنه په دې کې ده چې ده د غزل بیت بیت کې د رزم او بزم بېلابېل محتویات داسې سره اوډلي او منظم کړي چې سړي ته هم خوند ورکوي او هم نوی رنګ لري.

**توره چې تېرېږي خو ګزار لره کنه**

Downloaded from: ketabton.com

## زلفې چې ول ول شي خو خپل یاد لره کنه

پورتنی بیت د خوشال د یوه غزل مقفی بیت (مطلع) ده، د دې بیت لومړۍ مسره په (توره) پیل شوې او نوره زموږ په رزمي ادبیاتو او دود و دستور کې د غیرت، ننګ او همت سمبول دی.

توره نه یوازې د جنګ یوه فزیکي وسیله ده، بلکې هر څوک چې کوم ښه او ټولنې ته ګټور کار ترسره کړي، نو خلک وایي چې پلاني ((ښه توره)) وکړه، یا پلاني له پلاني سره ډېره ((توره)) وکړه یانې ښېګڼه یې ورسره وکړه. (زلفې) بیا د (تغزلي) مینې او عاطفې حالت لپاره راځي، چې د معشوقې د ښکلا یوه نښه ګڼل کېږي.

خوشال خان دا دواړه مفاهیم په یوه واحد بیت کې سره یوځای کړي او بیا یې یو ځانګړی جلا مفهوم ورڅخه جوړ کړی دی، دغسې سره لرې مفاهیمو یوځای کول تر خوشال دمخه په پښتو ادبیاتو کې نه لیدل کېږي، خوشال په خپل همدې غزل کې وایي:

**وینې مې د زړه خورې، مګر نو څه لره نه دی**
**زړه زما پیدا دی ستا خونخوار لره که نه**
**مې شته چنګ ونې شته د خپل یار سره خوشاله**
**خپل بیاض په لاس کې څه ګلزار لره که نه**

په پورتنیو بیتونو کې هم د خوشال د رزم او بزم مفهوم نغښتی دی، د خوشال د رزم او بزم مفکوره د خوشال بابا ډېرو غزلو ته لاره کړې ده.

هغه عشق او توره لازم او ملزوم بولي او وایي چې توره هم د عشق په زور ترسره کېږي، یو څوک چې له کوم شي سره مینه ونه لري نو د

Downloaded from: ketabton.com

هغه د لاسته راوړلو لپاره توري هم نه وهي او څوک چې له څه شي سره مينه ولري د هغه لپاره توري هم وهي او قرباني هم ورکوي.

خوشال خان وايي:

**بـدرګـه کـه مـحبت راسـره نـه وای**
**يكتنها به په خونخوارو لارو تلل څوك**

خوشال توره او سربښندنه د مينې او عشق برکت بولي او پرته له هغه توره او سربښندنه ممکنه نه ده:

**واړه عشق دی چې يې سر راته ګياه کړ**
**ګـنه زه پـه ځـان مـين د سربښندل څوك**

خوشال په عشق او مينه کې دومره سربښندنې او ځان تېرېدنې ته حاضر دی چې ان که سر يې لاړ هم شي له خپلې معشوقې به تېر نه شي، دی دې ته هم حاضر دی چې آن د ژوند په بدل د معشوقې زړه لاسته راوړي ځکه نو خپلې معشوقې ته وايي:

**تـه مـې وژنـه د قصاص اند يښنه مه کړه**
**د خپل مرګ په تور به ونيسم يو بل څوك**

خوشال په عشق کې سرتېري يو حتمي شرط ګڼي او وايي، هغه څوک چې په عشق کې له سر سره لوبې ونه کړي، هغه وصال ته نه شي رسېدلې او هغه څوک چې په دې لاره کې د سر قربانۍ ته حاضر نه وي هغه په هېڅ خساب دی.

**پـه پالنګ د معشوقې ورځي سرتېري**
**هر عاشق چې تر سر تېر نه وي هم هېڅ**

Downloaded from: ketabton.com

خوشال خان په عشق کې د برې خبرې په توره فیصله کوي او دغه راز که معشوقه وغواړي دی د خپل سر تېغ ((غوڅونې)) ته هم حاضر دی، مقصد دا چې معشوقه یې خوشاله شي.

**په درست جهان به وي یو زما غوندې رسوا بل**
**ورځم توره وکښلې چې مین واوم په تا بل**
**نن ماوته چا ووې چې اشنا غواړي خپل تېغ نه**
**د خدای لپاره کوم به له صابر وي اشنا ستا بل**

خوشال په مینه کې خپلې معشوقې ته دومره وفاداره دی چې له خپلې معشوقې پرته د بل چا عادي ستاینه هم نه شي اوربدلای، ځکه چې خوشال خپله یو توریالی او ننګیالی شخص و، نو په عشق کې هم ځینو پوښتنو ته د تورې ځواب مناسب بولي.

**چې ستا له زېبا مخه څوك بل مخ راته وستايي**
**یو هسې قهر راشي چې که غوڅ د هغه سر کړم**
**ربښتیا خبره ښه ده راته غوږ باسه خوشاله**
**که تېر تر سرومال شوې زما ځانه خوله به درکړم**

خوشال بابا په مینه کې دومره ژور نظر لري چې ان د قتل لپاره هم د ((عشق شریعت)) له نظره فتوا ورکوي او وايي چې د عشق په شریعت کې سر بایلل، قصاص او دیت نه لري. او خپلې معشوقې ته وايي چې زما له مرګه وېره مه کوه:

**له مرګه مې څه غم کړې چې د عشق په شریعت کې**
**قاتل په شرعه خلاص دی له دیته له قصاصه**

خوشال د پورتنۍ قربانۍ ترځنګ بیا هم په خپله اراده دومره ولاړ دی چې خپلې معشوقې ته خطاب کوي:

Downloaded from: ketabton.com

**کـه لاس مـې رقیبان په تېره توره سره پرې کا**
**لمن به دې بیا هم زما له لاسه نه شي خلاصه**

خوشال بابا د یوه خان، امیر او زورور شخص په توګه په شاعرۍ کې د رزم او بزم په برخه کې تل هغه خبره کړې چې دده د پخې ارادې او لوړ همت ښکارندویي کوي. سره له دې چې مینه داسې یو شی دی چې ډېر زورور هم ورته تسلیم شوي او هم زبون شوي خو د خوشال د کلام ښېګڼه په دې کې ده چې دده هر کله له بزم سره رزم یو کړی، نو پښتني عنعناتو ته یې ډېره ترجیح ورکړې ده.

د خوشال په شان یو هوډمن شاعر په داسې یوه کلتوري ټولنه کې چې د مینې لپاره یې چاپېریال ډېر محدود او اغزن و، په ځرګنده د کلتور بندیز و، مذهبي دریخونو او نورو خنډونو پر وړاندې ودرېږي، د رزم او بزم چغه پورته کوي.

Downloaded from: ketabton.com

## د خوشال په یوه قصیده کې پښتني ننګ

د افغانانو ملي اتل او لوی شاعر خوشال بابا هغه لوی او عظیم شاعر دی، چې د تورې او قلم د څښتن نوم یې ګټلی دی.

خوشال بابا نه یوازې یو لوی شاعر او لیکوال و، بلکې یو قومي مشر، سیاستوال او ټولنیز شخصیت هم و. پر دې سربېره یو عالم او مفکر هم و. دده د فکر پلوشې دده په منظومو او منثورو اثارو کې ځرګندې دي. خوشال خان په خپله شاعرۍ کې د غزل، رباعي او قصیدې فورمونه زیات استعمال کړي دي، نور شعري فورمونه یې هم کارولي، خو د شعر زیاته برخه یې په دې فورمونو کې ده، خوشال بابا په لسګونو قصیدې لیکلي، چې د بیتونو شمېر یې له (۱۸) نیول بیا ان تر (۱۵۰) بیتونو هم اوړي.

موږ یې یوازې یوه قصیده یا بولله، چې ((پښتني ننګ)) نومېږي د بېلګې په توګه را اخلو، پر محتوا او شکل یې بحث کوو.

### الف: د شکل له مخې:

د پښتني ننګ قصیده ټوله (۵۲) بیتونه لري او په (۱۲) څپېز جوړښت ویل شوې ده. مطلع یې دا ده:

Downloaded from: ketabton.com

**پروره کـه د مـغولـو پــه نــمك يم**

**د اورنګ له جوره هم له غرېوه ډك يم**

پــه دې قصــيده كــې پــه مطلـع كــې ((نمــک)) او ((ډک)) دوا ړه د قــافيې كلمــې او د نــورو مصــرعو قافيــه يــې د قصــيدې د فــورم د خصوصياتو له مخې همدا د مطلع قافيه تعقيبوي (يم) (يم) چې په ټوله قصيده كې په يو شكل او يوه مانا تكرار راغلي دی، د رديف د تعريف له مخې د دې قصيدې رديف ګڼل كېږي.

د دې قصيدې د ټولو مصرعو د څپو شمېر يو برابر يانې (۱۲) څپه ييز دی.

دا وې د دې قصيدې د شكل په باب لنډې څرګندونې. اوس راځو د دې قصيدې معنوي خواوو ته:

## ب: د محتوا له مخې:

له څنګه چې ټولو ته څرګنده ده خوشال خان د پښتنو يو ملي او سياسي مبارزو، نو دده مبارزه دده په شاعرۍ كې هم منعكسه شوې ده، خوشال د يو لوی خان او د سيمې د يوه سردار په توګه د هغه وخت د شرايطو او تعاملاتو په پام كې نيولو سره يو څه وخت د مغولو د واكمنۍ په كړۍ كې هم پاتې شوی، خو دده ملي شعور او ولولې هغه زيات له مغولو سره همكارۍ ته پرېنښود او د خپل قوم پر خوا ودرېد.

Downloaded from: ketabton.com

په دې قصیده کې همدغو حالاتو او پوښتنو ته ځوابونه ورکړل شوي او د هغه چا شکونو ته هم ځواب ویل شوی، چې پر خوشال بابا یې د مغولو د پلوۍ شک کاوه، د قصیدې په لومړي بیت کې دا موضوع واضح شوې ده:

**پـروروده که د مـغولـو پـه نمك یم**

**د اورنګ له جوره هم له غرېوه ډك یم**

**په ناحق یې په زندان کړم یو څو کالـه**

**خدای خبر دی که پ خپل ګناه زه هك یم**

خوشال خان وایي، چې دا درسته ده چې مغولو ما ته جاګیر او منصب راکړی و، خو پر زړه یې هم داغلی یم، هغه وایي ما ځکه له مغولو سره ورانه کړه، چې زه د مغولو په نیتونو پوه وم. هغوی پښتنو ته په زړه کې کینه لرله.

**پـښتنو سـره زړه تور دی د مغولو**

**خبردار یې په نیتونو یك په یك یم**

خوشال بابا وایي پر هغې نوکرۍ دې اور پورې شي چې د سړي عزت او پت په کې خوندي نه وي.

خوشال خان سره د خپل قام غم او د هغه د خلاصون لپاره لوی فکرونه وو، د مقام او منصب وږی نه و.

Downloaded from: ketabton.com

**اور یې پورې په منصب په نوکرۍ شه**

**چې تر فهم و تر نظر د مغول کك یم**

**په خپل نام و ننگ چې راشم لیونی شم**

**خبردار کله په سود او زیان د لك یم**

خوشال بابا وايي له ما سره لوی لوی فکرونه دي، زه ډېر لرې نظر کوم، د خپل قام راتلونکی غواړم، اراده مې د زمري په څېر ده.

**لکه بـاز پـه لوی لوی ښکار زما نظر دی**

**نه چې گرځي گونگټ نیسي بادخورك یم**

او کله چې خوشال خان د مغولو نوکري پرېږدي، نو دی روحاً ډېر زيات خوشالېږي او د ازادۍ احساس کوي او دا ازادي ان د فرښتو د مرتبې په څېر گڼي. کله چې دی د مغولو له نوکرۍ خلاص شو، نو خان ورته (ملک) ښکاري.

**چې منصب مې د مغول خوړ یو ملك وم**

**چې منصب د مغول نه شته اوس ملك یم**

**د فـرمـان د پـروانـې حکـم یـې نـه شته**

**شکر دا چې په خپل حکم په خپل وك یـم**

Downloaded from: ketabton.com

خوشال چې يو ځل د مغولو پرضد مبارزه پيل کړه او پس له بنده يې دا عزم وکړ، چې يا به مخ مکې ته کوي او يا مغولو سره رزم، نو بيا تر پايه په خپل دې هوډ ټينګ ودرېد.

**چې نيولی مې دا هوډ د ننګ او نام دی**
**که له خپله هوډه واوړم کنيزک يم**
**د کريز بنې مې تويې لکه باز کړې**
**ګومان مه کړه چې بې پرونو ښاپېرک يم**

خوشال تل په خپلو شعرونو کې د پښتنو له خپلمنځي اختلافونو او نيمګړتياوو سر ټکولی دی او دا يې د دوی د شاته والي او کمزورۍ غټ عامل بللی دی. په دې قصيده کې يې هم دې نيمګړتيا ته يو ځل بيا اشاره کړې ده:

**په بل غشي ټوپک هېڅ ويشتلی نه يم**
**که ويشتلی يم خو بيا په خپل ټوپک يم**
**د خټکو حقيقت راته ښکاره شو**
**زړه مې بد له خپله ځانه چې خټک يم**

Downloaded from: ketabton.com

خوشال بابا د ژوند ناخوالو ته هېڅکله هم تسلیم شوی نه دی، دی وايي که هر څومره مشکلات شته، خو بیا هم ورته سرټیټي په کار نه دې او خپله دا قصیده په همدې پخه اراده پای ته رسوي.

**کـه مـې عـمر د عـفد به کال کې آس دی**
**د سوارۍ په کار کې ټینګ لکه اوزبك یم**
**که مې خپل دي که پردي دي چې بې ننګ وي**
**تـېره تـوره د بـې نـنګـو د تـارك یـم**
**د افـغـان پـه نـنګ مـې وتـړلـه توره**
**نـنګیـالـی د زمـانـې خـوشـال خـټك یم**

Downloaded from: ketabton.com

# د غلو ډیوه

## ( د استاد الفت د یوه نثر شننه )

دا خبره ټولو ته څرګنده ده چې استاد ګل پاچا الفت د پښتو د معاصر هنري نثر یو غوره استاد دی، د هغه نثري ټوټې لویې دي که ورې ټولې له مانا مالا مال دي، په همدې خاطر د استاد هر نثر چې څوک لولي یوه ژوره مانا ورڅخه اخلي او د ښه اجتماعي ژوند پر لوري لوستونکي ته لار پرانیزي. زه دلته یوازې د استاد الفت یوې ورې نثري ټوټې ته اشاره کوم چې څو مره د یوې ټولنې د ویښتابه لپاره ژور پیغام لري او څنګه خلک هڅوي چې د علم په رڼا ځان سمبال کړي او خپل ژوند له تیارو وژغوري. استاد الفت په دې نظر دی چې له هر امکان او هرې رڼا څخه باید ګټه پورته شي او ژوند ته ورپېښ خطرونه پرې له منځه یوړل شي. که څه هم دا امکان د بل چا له خوا د بل ارمان او بل مقصد لپاره کارېدلی وي. وګورئ د استاد الفت لارښوونې د هغه په دې ورې نثري لیکنې کې !.

### د غلو ډیوه

**سپوږمۍ ورکه شوه، شپه ډېره تپه تیاره وه، غله په تورتم کې راغلـه په کاله رانوتل. دوی خبر نه وو چې ښه ښه مالونـه چېرتـه ایښـي دي، ځکه یې ډیوه ولګوله او مال یې لټاوه. د کور و کلي خلکو چې رڼا ولیـده**

Downloaded from: ketabton.com

**راپاخېدل د غلو مخه یې ونیوله او غله یې وپېژندل. یوه وویل: له تــورتم نه د غلو ډیوه هم ښه ده. مورِ غله په رڼا کې ولیدل او راویښ شــو. هــوا! مورِ غلو راویښ کړو. زمورِ په کور کې غلو ډیوه ولګوله.**

په پـورتني نثر کې د ژوندانـه د سوکالۍ لپاره ډېر ژور پیغامونه بیان شوي دي. یو پیغام دادی، د چا په کور کې چې رڼا نه وي یانې د پوهې رڼا ، د هغوی به همېشه غـلا کېږي، څوک چې پر دایمي خوب ویده وي، هغـوی دې هم دا طمع نـه کـوي چې غلـه بـه یې پـر کـور نـه ورخېږي.

تیـاره د نامشـروع کـارونو لپـاره زمینـه برابـروي او رڼـا د مشـروع هڅـو لپـاره، د علـم او رڼـا ګټـه داده چـې خلـک بېځایـه خـوب تـه نـه پرېږدي او د غلو مخه نیسي او داسې نـور پیغامونـه. ددې نثري ټوټې بـل مثب پیغـام دادی چې خلـک بایـد لـه رڼا څخـه ګټـه واخلي او دې پسې ونه ګرځي چې دا رڼا چا بله کړې ده. د (غلو ډیـوه ) کـې د حضـرت بي بي عـایشې(رض ) د وینا هغه پیغام هم پـروت دی چې ویلي دي ((د ډیوې رڼا نه ګټه واخلئ، دې پسې مـه ګرځئ چې دا ډیـوه چـا بلـه کـړې ده.))

دلته هم ډیوه غله بله کړه او د خپلې ګټې لپـاره یې بلـه کـړه خو ګټـه یې کور والا او د کلي خلکو تـه ورسېده. استاد الفت پـه ډېر ظریفانـه ډول د هغو خلکو حالت ته اشاره کوي چې کلي کې یې تیـاره ده او پـه ژورو خوبونـو کـې ډوب دي، دوی تـه شـرم پـه کـار دی چـې غلـه د دوی

Downloaded from: ketabton.com

کلي ته په دومره ازاده توګه راځي چې ان په جرئت سره ډېوه بلوي او د خپلې غلا په لټه کې دي. استاد الفت په ډېر ظرافت خلک د تمبلۍ له خوبه ویښتابه او له تیارې څخه رڼا ته رابولي او رڼا د انساني ژوند د سوکالۍ ښه لار او وسیله ګڼي. د استاد الفت دا نثر نه یوازې د مانا له پلوه مالا مال دی، بلکې ډېرې لفظي ښکلاوې هم لري. وړې وړې مستقلې او متممې جملې لري، هره جمله یې یو خاص اهنګ لري چې د لوستلو پر وخت لوستونکي ته هېڅ ډول ستړیا نه پېښوي، اضافي کلمې او د عطف توري په کې ډېر نه دي راغلي، دا سې مغلق لغتونه په کې نه شته چې څوک یې پر مانا پوه نه شي، ژبه یې عامې محاورې ته سل په سلو کې نږدې ده، د ظرافت او دقت کیفیت په کې ډېر زیات دی، په همدې خاطر خو په ډېرو قوي هنري نثرونو کې حسابېدلای شي.

Downloaded from: ketabton.com

## ((ادبي بحثونه)) د تحقيق د اصولو له نظره

((ادبي بحثونه)) د ګل پاچا الفت هغه اثر دی چې د پښتو ټولنې له خوا په (۱۳۲) مخونو کې چاپ شوی او پر (۱۳۲۴ل) کال یې د خوشحال ادبي جایزه ترلاسه کړې ده.

استاد الفت په خپل دې اثر کې دغه لاندې موضوعګانې څېړلې دي: ((ادبي بحثونه، ادب، د ادب د کلمې تاریخ، د ادب تعریف، شعر، شعر د خوشال خان په نظر کې، شعر د حمید په نظر، شعر د شیدا په نظر، شعر د علیخان په نظر، په ژوند کې د شعر او ادب اغېزه، د ادب تاثیر په اسلامي فقه او دیني احکامو کې، د ادب ښه او ګانه او عامیانه بلاغت.))

د استاد الفت پر پورتني اثر په دوو مخونو کې پوهاند صدیق الله رښتین یوه لنډه سریزه هم کښلې، چې د استاد الفت د لیکوالۍ د پیاوړتیا یادونه په کې شوې او د هغه ځینې اثار یې معرفي کړي، خو په خپله د دې اثر ((ادبي بحثونه)) د محتویاتو د څېړنې او ارزونې په باب یې څه نه دي ویلي. ((ادبي بحثونه)) اثر خپله د لیکوال له خوا هم سریزه نه لري، چې د دې کتاب هدف یې په کې څرګند کړی وي. د تحقیق د اصولو له نظره یو تحقیقي او تحلیلي اثر باید یوه سریزه ولري، چې لیکوال په کې معمولاً د خپل اثر د لیکلو ضرورت څرګندوي، دغه راز لیکوال په سریزه کې د تحقیق یا تحلیل میتودونه هم په ګوته کوي چې له کوم میتود او تحلیل څخه یې کار

Downloaded from: ketabton.com

اخیستی دی. سربېره پر دې لیکوال هغو نیمګړتیاوو ته هم اشاره کوي چې دی یې پر حل بریالی شوی نه دی او ددې ترڅنګ د تحقیق خپلې منابع هم ښیي چې له دغو سرچینو څخه ددې اثر په بشپړاوي کې کار اخیستل شوی دی. البته دا د نوي تحقیق د نویو اصولو څو معیارونه دي، خو کوم وخت کې چې استاد الفت دا اثر لیکلی په هغه وخت کې په پښتو ادبیاتو کې د تحقیق اصول او معیارونه په هغې کچې نه وو لکه اوس چې دي. د تحقیق منابع هم کمې وې، یوازې د ساحوي تحقیق منابع زیاتې وې او په پښتو ژبه لیکل شوې منابع ډېرې لږې وې. د پښتو ادبیاتو پنځو ځلانده ستورو ((استاد پوهاند علامه عبدالحی حبیبي، استاد عبدالروف بېنوا ، استاد قیام الدین خادم، استاد ګل پاچا الفت او استاد پوهاند صدیق الله رښتین ) ) هغه شخصیتونه وو چې د ادبیاتو په هر ډګر کې یې ډېر ابتکارونه وکړل او ډېر نوي اثار یې رامنځته کړل. د تحقیق په برخه کې هم دوی ټولو ډېر اثار ولیکل چې لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي خو ښخي په سیمه کې د یو لوی محقق په توګه راڅرګند شو او د یوه ستر محقق او مورخ مقام یې وګاټه، همدا پنځه ستوري په تېره بیا استاد حبیبي هغه کسان دي چې په پښتو ادبیاتو کې د نوي تحقیق پیلوونکي او مبتکرین ګڼل کېږي.

لکه څنګه چې ژوند په ډېرې چټکۍ سره روان دی او په هر څه کې بدلون راځي، د تحقیق په اصولو او معیارونو کې هم نوي شیان زیاتېږي، خو د تحقیق اصل او جوهر (د حقیقت پلټنه) پر خپل ځای ده.

Downloaded from: ketabton.com

استاد الفت خپل دا اثر له نن (۱۳۸۲ل کال) څخه نږدې شپېته کاله د مخه لیکلی و ، هغه وخت د پښتو ادبیاتو په هر ډګر کې نویو اثارو ته ضرورت و او دې اثر د هغه وخت او بیا تر ننه پورې د ادبي څېړنې او ارزونې په برخه کې ډېرو پوښتنو ته ځواب ویلی او وایي یې. خو که اوس موږ د اوسني تحقیق معیارونه پرې تطبیقوو ، دا سل په سلو کې نه تطبیقېږي. د ساري په توګه د تحقیق اوسني اصول دادي چې په هره لیکنه کې چې له چا څخه نقل قول کېږي باید د هغه ماخذ هم ورسره ذکر شي. خصوصاً چاپي ماخذ ، د ماخذ لیکل ضروري دي، چې که د چا پر هغې لیکنې شک پیدا شي اصلي منبع ته یې مراجعه کولای شي.

دغه راز که موږ په تحقیق کې له متبرکو لارښوونو لکه د قران عظیم الشان د ایتونو او د نبي کریم(ص) له حدیثو څخه ګټه پورته کوو ، نو ضروري ده چې د قران عظیم الشان د پارې، سورت او ایت د شمېرې ذکر وکړو ، دغه راز که د احادیثو یادونه کوو نو مجبور یو د راوي، صحیح، ثقه احادیثو او همدارنګه د احادیثو د کتاب ذکر وکړو. استاد الفت د یوه دیني عالم په توګه ښشکه چې د دین له ډېرو لارښوونو واقف و ، خو هغه څوک چې د استاد الفت دا اثر لولي هغوی د استاد په شان د اسلام دین څخه پوره واقف نه دي، نو چې که کوم ځای کې د ایت او حدیث ذکر کېږي د اوسني تحقیق له نظره په کار ده چې موخذ شوی حدیث د کتاب او راوي ذکر په کې هم راغلی وای چې لوستونکو ته یې ګټه نوره هم زیاته شوې وای. په دې اثر کې د ادب د کلمې د ریښې په هکله راغلي: ((ځینې وایي چې دا کلمه د

Downloaded from: ketabton.com

جاهلیت په زمانه او د اسلام په ابتداء کې نه وه، ځکه چې نه د هغه وخت په ادبي اثارو کې راغلې ده او نه په قران کې شته، بلکې لومړی ځل دا کلمه په نبوي حدیث (ادبنی ربی فاحسن تادیبی) کې ذکر شوې ده، (دا حدیث محدیثینو په دې الفاظو نه دی ذکر کړی) ځینې نور وايي دا کلمه د جاهلیت په زمانه کې هم وه او دا چې د هغه وخت په اشعارو او قران کریم کې نه شته، ددې دلیل نه شي کېدی چې دا کلمه په هغه وخت کې هډو موجوده نه وه.

دوی د خپلې مدعا د ثبوت لپاره دا دلیل راوړي چې کوم وخت دا کلمه په حدیث او د اصحابو یا تابعینو په اقوالو کې راغله او هېچا د مانا او مفهوم پوښتنه ونه کړه، معلومه شوه چې پخوا هم وه او ارتجالانه ده ویل شوې، وايي چې دا کلمه د حضرت علي(رض) په اقوالو کې هم ډېره راغلې ده او د جاهلیت په وخت کې هم د (اکثم) بن صیفي د بني تمیمو مشهور خطیب ذکر کړې ده.))(۱)

د تحقیق د اوسنیو اصولو له نظره کوم نبوي حدیث چې په لیکنه کې ذکر کېږي د هغه د اخځ منبع هم باید ورسره یاده شي.

په (ادبي بحثونه) کې څوارلس ببلا ببلې لیکنې راغلي، سره له دې چې ټولې د ادبیاتو په دایره کې شاملې لیکنې دي، خو بیا هم هره موضوع په جلا جلا ډول څېړل شوې ده. د تحقیق د اوسنیو اصولو له مخې په هره لیکنه کې چې له کوم ماخذ څخه ګټه پورته کېږي یا د لیکنې په لمنلیکونو کې او یا هم د لیکنې په پای کې هغه ماخذ ذکر کېږي، خو د استاد الفت په دې څوارلسو لیکنو کې نه په لمن لیک

(۱) ادبي بحثونه (۷) مخ.

Downloaded from: ketabton.com

کې او نه هم د لیکنې په پای کې د ماخذونو یادونه شوې ده. ددې یوه وجه شاید دا وي چې د استاد دا لیکنې تر تحقیقي هغو زیاتې تحلیلي دي، استاد یوه موضوع ټاکلې د هغې په اړه یې ژوره مطالعه کړې او بیا یې د هغې مطالعې نچوړ د هغې له استدلالونو سره یوځای د لوستونکو مخې ته ایښې دی. استاد الفت چې په دې اثر کې هره لیکنه کړې د هغې هدف او د هغې د موضوع د حقانیت ثابتول دي، دا داسې موضوعګانې نه دي چې نوي تحقیق ته اړتیا لري، بلکې ډېرې زیاتې ژورتیا او تحلیل ته ضرورت لري، د لوستونکو لپاره دا موضوع مهمه نه ده ګڼل شوې چې شعر څه وخت پیدا شوی او ادبیات څه شی دي؟ بلکې هدف دادی چې د ټاکل شوې موضوع ماهیت او ارزښت لوستونکي ته توضیح، تشریح او د هغوی قناعت حاصل کړي. د ماخذونو د نشتوالي یو بل علت شاید دا وي، استاد الفت چې د یو بل چا له فکر او محتوا څخه څه انتقالوي موخه یې داده چې موضوع پرې توضیح کړي، بله خبره دا ده چې دا محتوا دومره مشهوره او څرګنده وي چې چاته په کې د ماخذ پلټنې ضرورت او پوښتنه نه پیدا کېږي. وګورئ (شعر د خوشحال، حمید، شیدا او علیخان په نظر) لیکنو کې هم کوم شعرونه چې راغلي، کېدی شي ددې علت دا وي چې دا دومره مشهور شاعران دي چې هرڅوک یې له شعرونو سره اشنا دي او په تېره بیا ددې شاعرانو هغه شعرونه چې د شعر په باب یې ویلي دي. لکه د خوشال بابا دا شعر:

**((لکه غشي لره بویه تیر انداز**
**هسې شعر لره بویه سحر ساز**
**همېشه د زړه په لاس تله د وزن**

Downloaded from: ketabton.com

زيــات وكــم لــه وزنــه يــو تــوری غمــاز
پــه تــور اس د حقيقــت نــاوې ســپره كــا
پــه ســپين مــخ پلــو نيــولی د مجــاز
ســل جلــوې ســل كرشــمې ســل مكېزونــه
پــه نظـر كـې يـې ښـكاره د ستركو نـاز.))(۱)

د حميد بابا دا شعر:

((شعر نه دا خوناب د زخمي زړه دی
يا دستي وتلی دم د خولې د مړه دی
يا نغمه د نيم بسمل مرغه د خولې ده
يا مجنون تـه مـعمـا ښكلـې ليلی ده
يـا د ويـنو ابـاسيــن وهـلـی موج دی
يا له ښاره د حيرت وتلی فوج دی.))(۱)

همدارنګه د كاظم خان شيدا شعر:

((مضمون د شعر لكه پيكــر دی
رنګين الفاظ يې رخت وز يور دی
ورتــه ضـرور دي دا دواړه څــيزه
پيكر كه هر څو دلربا تر دی.))(۲)

دا ډول شعرونه په پښتو شاعرۍ كې دومره مشهور دي چې نږدې هر پښتون شاعر ورسره اشنا دی، نو كه ماخذ ذكر هم نه شي او هغه هم

---

(۱) ادبي بحثونه، ۱۵-۱۶ مخونه.
(۱) ادبي بحثونه، ۱۹ مخ.
(۲) ادبي بحثونه، ۲۱ مخ.

Downloaded from: ketabton.com

په تحلیلي لیکنه کې ډېره نیمګړتیا نه ګڼل کېږي، خو که یو سوچه تحقیقي لیکنه کېږي، نو بیا ضرور ده چې ماخذونه په پوره او دقیق ډول وښودل شي.

لکه څنګه چې د مخه مو وویل د استاد الفت دا لیکنې زیاتره دده د هغې مطالعې او استدلال او دده د خپل منطق زېږنده دي چې تر دې لیکنې د مخه دده په ذهن کې راټول شوي او په دې لیکنه کې یې د هغو له نچوړ څخه ګټه پورته کړې ده، کله چې د یوه مطلب مانا خلاصه کوو او یا هم د هغه شیره راباسو ممکنه نه بریښي چې هغه ماخذ دې کټ مټ هماغه شان ذکر شي ځکه دا محتویات په هغ ماخذ کې په همدې بڼه نه دي راغلي، البته د مانا اتفاق ورسره شته.

د تحقیق یو اصل دا هم دی چې د کتاب په باره کې د کتاب په پای کې یوه نسخه هم راځي، چې لیکوال په هغې کې هڅه کوي د هغو ټکو یادونه وکړي چې دی یې په ترسره کولو کې بریالی نه شو او د خپل کړي کار نتیجې ته اشاره کوي او کله کله دا غوښتنه هم کوي چې ما تر دې حده خپل کار ورسوه او هیله لرم چې نور یې په اینده کې د نویو منابعو د تعقیب له لارې پوره کړي، په ادبي بحثونه اثر کې ددې خبرې یادونه نه ده راغلې یانې کتاب له کومې نتیجې پای ته رسېدلی دی.

سربېره پر دې اکثره تحقیقي کتابونه په پای کې نښلونې، تعلیقات او نوم ښودونه لري چې د کتاب د ځینو محتویاتو شرح هلته راځي، سخت لتونه هم په کې تشریح کېږي او د مهمو ځایونو، شخصیتونو او سیمو نومونه هم په کې ذکر کېږي، چې دا له

Downloaded from: ketabton.com

لوستونکي سره مرسته کوي، چې کتاب په هر اړخیز ډول مطالعه کړي. خو دا اثر دا ډول ځانګړتیاوې نه لري او علت یې شاید دا وي چې دا اساساً تحقیقي اثر نه دی، بلکې یو تحلیلي اثر دی او بل دا سې سخت الفاظ، لغت د ځایونو او شخصیتونو نومونه په کې نه دي راغلي چې هغه دې لا نورې شرحې او تفصیل ته اړتیا ولري، دا (ادبي بحثونه) دي او دا بحثونه تر هغه تعقیب شوي چې لیکوال باوري شوی چې د لوستونکي قناعت حاصل شوی، نو ځکه د تحقیق د هغو نویو معیارونو تطبیق ته اړتیا نه لیدل کېدله، زما په نظر (ادبي بحثونه) اثر په پښتو ادبیاتو کې یو ډېر ګټور تحلیلي اثر دی، نه تحقیقي، خو د تحقیق یو څه ځانګړتیاوې هم په کې شته، نو له همدې کبله مورږ د منطق، تحلیل او استدلال پر داسې یو ارزښتمن کتاب د تحقیق ټول اوسني معیارونه نه شو تطبیقولای.

Downloaded from: ketabton.com

# د مومن خان او شیرینو کیسه

# یوه تراژیکه حماسه

((حماسه په ادبي ډولونو کې ډېر لرغوني ډول دی. په حماسه کې تر تاریخي دورانه وړاندې زمانو وقایع راغلي وي او په حقیقت کې د لومړنیو زمانو ګزارش دی. حماسه په هغه دوران کې د یو ملت ارمانونه بیانوي چې تاریخ، اسطوره، خیال او حقیقت ټول په کې سره ګډ وي.))

د دوکتور سیروس شمیسا په نظر ((حماسه قدیمترینه او مهمترینه ادبي نوع ده چې د قبل التاریخ زمانې تاریخ بیانوي.))

((څنګه چې حماسې د ډېرو لرغونو او لومړنیو وختونو خاطرې دي، نو په دې حساب د شفاهي کیسو او نکلونو په شکل سینه په سینه رانقل شوي او تر هغې چې په یوه زماني مقطع کې یې څوک لیکلو ته پیدا شوي او لیکلي یې دي.))

Downloaded from: ketabton.com

په حماسه کې معمولاً د يو قوم، قبيلې او يا شخص د مېړانې او تورې کيسې او جنګي کارنامې په حکايتي ډول بيانېږي. د حماسې يو شرط دادی چې پېښې په کې په داستاني ډول بيان شوي وي. حماسه کېدی شي منظومه او يا هم منثوره وي.

ادبپوهانو د حماسې د خصوصياتو په لړ کې ځينې داسې خصوصيات په ګوته کړي چې هغه عام دي او د نړۍ د بېلابېلو ژبو په اکثرو حماسو کې دا خصوصيات موجود دي چې د حماسې عام خصوصيات ګڼل کېږي او بل د پښتو حماسې خصوصيات دي چې هم له نورو حماسو سره اړخ لګوي، خو ځينې يې داسې دي چې د نورو ژبو په حماسو کې نه شته او يوازې د پښتو حماسو ځانګړنې دي چې دا ډول ځانګړنې اکثره له پښتني کلتور، دود او دستور او ټولنيزو تعاملاتو سره تړلي دي. موږ به دلته د حماسې ځينو عامو او د پښتو حماسو خاصو ځانګړنو ته نغوته وکړو او بيا به د (مومن خان او شيرنو) حماسه د همدې خصوصياتو په پام کې نيولو سره تحليل کړو:

- هر حماسي اثر کې د جنګ، بهادرۍ، مېړانې، پهلوانۍ او شهسوارۍ کيسې راغلي دي.
- په حماسو کې د حيواناتو نقش ډېر ستر دی.

Downloaded from: ketabton.com

- د حماسو اتلان معمولاً داسې کسان وي چې له هیولاوو او وحشتناکو حیواناتو سره مقابله کوي.

- په حماسه کې یاد شوي بوتې، ونې او مېوې زیاتره جادویي او خارق العاده خصوصیات لري.

- د حماسو اتلان معمولاً فوق الطبیعي انسانان ښودل کېږي.

- د حماسو د اتلانو کارونه اکثره خارق العاده وي او د منطق په تله نه تلل کېږي.

- د حماسو اتلان د خپل ژوند په برخه کې له خپل یو ضد قهرمان سره مخامخېږي.

- د حماسو اتلان اکثره په یو خطرناک او اوږد سفر وځي.

- د حماسو قهرمانان ډېرې کارنامې ترسره کوي چې زیاتره ملي او معنوي ارزښتونه لري.

- د حماسې اتل په یوه مهیجه صحنه کې له خپل اصلي دښمن سره جنګ کوي.

Downloaded from: ketabton.com

- د حماسو اتلان تن په تن جنګونو کې له بېلا بېلو وسلو څخه کار اخلي لکه نېزه، خنجر، توره، غشي لينده او نور...

- د جنګ په افزارو کې فرېب او غولونه شامل دي.

- په حماسو کې عينيت، ساده ګي، اقتدار او عظمت ليدل کېږي.

- ټولې حماسې عالي سبک لري او زاړه کلمات په کې راغلي وي، ماناوې يې جدي وي.

پښتو حماسې پر پورتنيو ځانګړنو سربېره د خپل کلتور خاص رنګ هم لري، د مرحوم محمد ابراهيم عطايي په نظر: ((په دې شفاهي داستانونو کې ټول برخوردونه په حقوقي لحاظ د قبيلې د قبول شوي حقوقي تعاملاتو تابع وي او واقعات که د تصادف له مخې هم پېښ‌چلي رنګ اخلي، نو د خپلې قبيلې حقوقي حريم د هغه حدود ټاکي.)) ((زمونږ حماسې د ننواتو، ننګې، پور، شرم، پړې، ساري، هډ او هډماتي کودونه د حماسې د واقعاتو د بيان په ترڅ کې په خپل ځای کې پداسې حال کې استعمالېږي چې زمونږ د ټولنې د عنعني نظام څېره په کې له ورايه ښکاري.))

Downloaded from: ketabton.com

اوس غـواړم د مـومن خـان او شـيرنو کيسـه د حماسـې د همـد غو معيارونو په رڼا کې وڅېړو ، لومړی به د دې کيسې لنډيز راوړم.

د مـومن خـان او شـرينو کيسـه د فولکـور د يـوې برخـې پـه توګـه موجوده وه ، د هغې له بېلابېلو وريانتونو څخه يو وريانت يې محمد ګـل نـوري پـه خپـل مشـهور اثـر (ملـي هنـداره ) کـې راوړی دی. دا اثـر لومړی ځل (۱۳۱۸ل ) کال په کابل کې چاپ شوی او تـر هغـه وروسته د بېلابېلو سوداګرو له خوا څو ځله چاپ شوی دی ، د دې کيسـې لنډيز دادی:

دوه ورونه وو ، يو يې د قوم مشر و او اوه زامن يې درلـودل ، دې بـل ورور يـې زوی او لـور نـه درلـودل د دواړو وروڼـو مـاينې سره برابـرې شوې ، مشر ورور يې کشر ته وويل که ستا لور وزېږېده او زما زوی نـو ستا لور به زما زوی ته راکوې او کـه سـتا زوی وشـو ، نـو زه بـه مـې لـور سـتا زوی تـه درکـوم ، کشـر وويـل ښـه. نهـه مياشـتې او نهـه سـاعته وروسته خدای کشر ته زوی ورکړ او مشر ته لـور ورکـړه. د کشـر د زوی نوم مومن خان شو او د مشـر د لـور نـوم شـيرينو شـوه. د دوی دواړو پـه کوچنيتوب کې مينه وه ، څه موده پس دواړه ورونـه مـړه شـول. د مشـر ورور زامـن يـې پـه مشـری جـوړ نـه شـول ، نـو مـومن خـان ورتـه وويـل مخکـې مشـري سـتا سـې وه خـو اوس زه مشـري غـواړم. نـيم ولـس پـر

Downloaded from: ketabton.com

مومن خان ودرېد ، فیصله په دې وشوه چې د نیم ولس مشر به مومن خان وي او د نیم به زبردست خان، (د مومن خان د تره مشر زوی). دې کې مومن خان خپلو تره زامنو ته د شرینو په باب جرګه ورولېږله چې تره یې ده ته ورکړې وه او دواړو په زړه کې پټه مینه لرله. خو زبردست خان وویل چې زه هېڅکله خپله خور نه درکوم، خو د جرګې په مخکې یې یو شرط پرې کېښود چې په دغه سپر دې دولس منه سپره یانې بتکې ماته راکړي، نو بیا یې ورکوم که نه وي هېڅ. مرکې قبوله کړه، مرکې مومن خان ته جریان تېر کړ نو مومن خان دا ناره وکړه:

راځئ راځئ چې سره ځونه

د شرینو ورور مې غواړي په بارونه

مومن خان وویل چې زه خو دومره بتکې نه لرم، زبردست خان ماسره زبردستي کوي، نو ښه ده چې وطن پرېږدم او هندوستان ته لاړ شم. دې کې شیرینو خبره شوه، نو زړه یې طاقت ونه کړ تور پړونی یې پر سر کړ او په یو تراټ راغله نو یې دا ناره پرې وکړه:

تا د سفر موزې په پښو کړې

د زېړو ګلو باغ په چا سپارې مینه

Downloaded from: ketabton.com

مومن خان په ځواب کې دا ناره پرې وکړه:

ما د سفر موزې په پښو کړې

د زېړو ګلو باغ پر خدای سپارم مینه

شیرینو ورته وویل چې ولې ځې؟ مومن خان وویل چې ستا ورونه دومره بتکې غواړي دا خو زه نه لرم، نو شیرینو ناره پرې وکړه:

د هندوستان ولور ته مه ځه

د شیرینو ولور دې ما واخله مینه

مومن خان په ځواب کې وویل:

د هندوستان ولور ته ځمه

د شیرینو ولور په خپل لاسو ګټمه

شیرینو فکر وکړ چې په دې نارو خو ونه ګرځېد راځه بله ناره پرې وکړه چې د پښتنو خوښه نه ده نو یې دا ناره پرې وکړه:

د هندوستان ولور ته مه ځه

د هندوستان جونې لولۍ بند به دې کړینه

Downloaded from: ketabton.com

خو مومن خان په ځواب کې دا ناره پرې وکړه:

د هندوستان ولور ته ځمه

د هندوستان جونې زما مندې غوندې دينه

که شيرينو هر څو مره فرياد وکړ خو مومن خان له سفره راونه ګرځېد نو دا ناره يې پرې وکړه:

مومنه ! ځه الله دې مل شه

دا شينکی خال او زلفې تا لره ساتمه

مومن خان نور خلک راوګرځېدل خو يوازې نږدې ملګری ريدي ګل خان ورسره لاړ. مومن خان ډېر ښايسته و کله چې هندوستان ته ورسېد ، نو د عسکرو د يو ټولي يو عسکر وليد او هغه بېخوده شو ، پر خپلې نېزې پرېوت او هغه يې له لړمانه ووته. نو ريدي ګل ورته بيا وويل چې نقاب وتړه.

پاچا د زخمي پوښتنه وکړه ، هغه ورته کيسه وکړه يې ويل چې هېچا نه يم وهلی ، مګر زه خپل عشق په نېزه ووهلم. پاچا حکم وکړ چې دا ځوان پيدا کړئ، مومن خان يې پيدا کړ او پاچا ته يې بوت ، د پاچا سترګې پرې ونښتې ، خوښ يې شو او څنګ کې يې کېناوه ،

Downloaded from: ketabton.com

خیال یې شو چې دی هم د پاچا زوی دی، مومن خان نه یې وپوښتل، هغه وویل د پلاني پاچا زوی یم، هلته مې خوا بده شوه، دلته راغلم، پاچا وویل ښه زه دې هم کاکا یم.

یوه ورځ مومن خان د پاچا پهلوانانو سره غېږه باسي او هغوی ځملوي، پاچا بیا هم په دې کار خوشالېږي. یو وخت دربار ته د بل پاچا خط راځي چې ججه یا باج راکړه، مومن خان ورته وویل چې باج به نه ورکوې، زه پښتون یم تا له باج څخه خلاصوم، دې وخت کې ځي په یوه زرګر خپل آس ته د سرو زرو نالونه جوړوي چې یوه ښځه پر اوښ سپره پرې پېښېږي او دا ناره کوي:

ځوانانو ننګ راباندې وکړئ

پلار مې مغل دی ما ښامار لره لېږینه

په دې کې یو ټوکي داسې ناره پرې وکړه:

مورې خو به ننګ درباندې وکړو

مېړه دې ناست دی په مجلس کې سور بربتونه

مومن خان له زرګر څخه پوښتنه وکړه چې دا څه ناره او څه نقل دی؟ هغه ویل هلته د غره پر سر یو ښامار دی، پاچا هره ورځ یوه ښځه

Downloaded from: ketabton.com

یو اوښ په ډوډۍ بار ورلېږي او ښامار یې خوري. نن د پاچا د لور وار دی او د وزیر زوی د دې ښځې مېړه دی، مومن خان چې دا حال ولید، نو دې ښځې پسې د ښامار پر لور رهي شو.

په غره کې مومن خان او ښځه یوځای وو، ښامار پر مومن خان حمله وکړه، هغه خپله توره ځان پورې نښلولې وه، ښامار مومن خان په ستوني کې له پښو تېر کړ څو مره چې ښامار تېراوه د هغه خوله او سینه یې څیروله او په دې ډول ښامار مړ شو او مومن خان ژوندی ترې راووت، د ښامار له سینې یې یوه توره تسمه وویسته او ښځې ته یې وویل که هر چا ویل چې ښامار ما وژلی، نو ته ورته ووایه چې ښامار هغه چا وژلی چې د ښامار د سینې توره تسمه ورسره ده.

دې کې د پاچا ښځې د خپلې لور احوال پسې یو سړی ولېږه، هغه چې هلته ولیدل د پاچا لور ژوندۍ او ښامار مړ دی، نو فکر یې وکړ چې راځه پاچا ته ووایه چې ښامار ما مړ کړی، نو خاص انعام به راکړي. د پاچا لور یې پر اوښ سپره کړه او حرم سرای ته راغی. نو لور یې دا ناره پرې وکړه:

ښامار هغه سړي وژلی

چې په خپل جېب کې د ښامار نښه لرینه

Downloaded from: ketabton.com

پاچا بیا مومن خان پسې خلک لیږي او هغه راغواړي ورته وایي چې ښامار تا وژلی، هغه وایي هو، دغه یې نښه ده. پاچا ورته وویل چې نیمه پاچاهي او لور مې ستا شوه، مومن خان وویل نه دې نیمه پاچاهي اخلم او نه دې لور، خو زما یو ناز واخلئ، پاچا وویل په غبرګو لیمو، مومن خان وویل چې د هغه پلاني پاچا نه به ججه نه اخلې، پاچا وویل هغه دې زما پهلوانان مات کړي، مومن خان وویل پهلوانان دې ماته راوله که زه یې مات کړم، نو ججه ورنه واخله او که مات یې نه کړم، نو مه یې اخله، پاچا وویل زما پهلوانانو کې څوک داسې نه وو چې ښامار یې وژلی و، تا مړ کړ، نو ججه، نیمه پاچاهي او لور مې دربښلي دي.

مومن خان وویل چې نه پاچاهي کوم او نه ماینه کوم، زه ماینه لرم، پاچا وویل چې پاچاهي نه کوې نو دا لور به مې حتمي کوې، مومن خان ناچاره شو نو ورسره یې نکاح وتړله.

مومن خان د واده په شپه توره وکښله او د ځان او ښځې ترمنځ یې کېښودله او د پاچا لور ته یې وویل چې زما د زړه مینه شیرینو ده. که لاس او پښه دې راوړل په دې توره به دې غوټه پرې کړم. د پاچا لور ورته وویل چې زه صرف ستا په نوم یم همدغه فخر مې بس دی نور څه نه غواړم.

Downloaded from: ketabton.com

څو موده وروسته مومن خان ته خبر راغلی و چې شیرینو یې ورکړې ده. مومن خان له هغه پاچا څخه رخصت واخیست چې ده اول لیدلی و، پاچا اوه غاترې په بتکو وربار کړې څو کسه نوکران یې ورسره کړل چې تر وطنه یې ورسوي. د پاچا لور (د مومن خان ماینه) هم له (نهه د برشو) نجونو سره ورپسې روانې شوې. مومن خان د زبردست خان کور ته نږدې شو، شپه وه، نورو ملګرو ته یې وویل تاسې دلته د بره شئ چې وګورم رښتیا یې شیرینو ورکړې ده، که یې ورکړې وه نو شیرینو او مېږه به یې غبرګ په توره ووهم مړه به یې کړم او که نه یې وه ورکړې، نو بېرته به دستي راشم. د شپې کور ته وروا وښته د شیرینو کټ د ورونو په منځ کې و، دی ورنږدې شو، شیرینو پرې راویښه شوه نو پر ورونو یې ناره وکړه:

ورونو د مرګ پر خوب ویده یې

په نیمه شپه مې غمازان ازاروینه

ورونه یې راپاڅېدل، هر یو یوه یوه چاړه وواهه، مومن خان غږ نه کاوه، زبردست خان یوه چاړه په ځیګر کې وواهه ګوزار شو، نقاب یې له مخه ایسته کړ، شیرینو په دغه تاریکۍ کې وپېژندو نو یې ناره کړه:

ادې راکښته سه اور بل کړه

Downloaded from: ketabton.com

د مومن خان په وينو رنګ شو بالښتونه

د مومن خان مور ته يې احوال ورولېږه.

کله چې د مومن خان مور ليدو ته راغله نو دا ناره يې وکړه:

ما په خپل کور کول فالونه

چې مومن خان به د هندوستان راوړي شالونه

نو بيا شيرينو ناره وکړه:

د مومن عقل کوتاه و

پر نيمو شپو څوک د چا سرای لره ورځينه

بيا د زبردست خان مور ناره وکړه:

مومن مې دولس کاله تللی

پر ديارلسم کال چې راته اجل نيولی

دا وخت چې مومن خان زخمي و ، نو پوښتنه يې تري وکړه چې کوم تپ دې ډېر خوږېږي نو يې ناره کړه:

مومن خان اووه چړې خوړلي

Downloaded from: ketabton.com

## د زبردست د چړې ډبر فریاد کوینه

زبردست چې کله پوه شو چې مومن خان دده له چړې مري، نو هغه چاړه یې په خپل ځیګر کې ووهله، سوړ پوړ واوښت، خلک پرې راټول شول، یو غم دوه غمه شول، زبردست وصیت وکړ چې زما جنازه تر دې دمخه یوسئ، او ما دمخه ښخ کړئ، ځکه چې ما ده سره ډېر ظلم کړی، مومن خان چې واورېدل چې زبردست خان ځان مړ کړ، نو ده وویل: زه مړ کېدلم نو ده ولې ځان مړ کړ؟ لږه شېبه وروسته یې ساه وختله.

د مومن خان جنازه لا خلاصه نه وه چې د پاچا لور له نورو نهه دېرش نجونو سره د مومن خان کور ته راورسېده له یوه بزګر څخه یې پوښتنه وکړه هغه په ځواب کې وویل:

پر نیلي سور راغی ښه ځوانه

مومن خان مړ دی په هوا ژاړي مرغینه

بزګر ورته ټول نقل وکړ هغې دا ناره وکړه:

یو دادې څه ویل بزګره !

غشی دې راکړ د ځیګر پر پیوستنه

Downloaded from: ketabton.com

د پاچا لور نورې نجونې رخصت کړې او ويې ويل چې زه به دلته د مومن خان د زيارت ملنګه يم.

کله چې يې د مومن خان جنازه وړله شيرينو وويل چې د مومن خان ارمان ختلی نه دی نو دده جنازه دې پېغلې يوسي، نو دې کې د پاچا لور هم تر جنازې لاندې شوه، کله چې يې مومن خان خاورو ته سپاره، نو د پاچا لور خدای ته سوال وکړ چې دا هم واخلي، نو د پاچا لور مړه شوه، دې وخت کې د مومن خان مور ناره کړه:

مومن په لوړه غونډۍ کېږدئ

چې خواره مور يې هر سحر زيارت کوينه

کله چې يې مومن خان ښخ کړ نو شيرينو دا وروستۍ ناره پرې وکړه:

ارمان ارمان لا خان مومنه

ارمان خو دادی خانه مړ وې مړ مې کړې په خپله

مومن خان يې په لوړه غونډۍ ښخ کړ، د پاچا لور او زبردست خان يې په هديره کې ښخ کړل.

Downloaded from: ketabton.com

يوه شپه يو ښه سړي خوب وليد چې د پاچا لور په خپل قبر کې نه شته، کله چې خلکو قبر وسپړه، هلته نه وه د مومن خان په قبر کې وه، بيا يې د لارې په بله خوا کې ښخه کړه، څو موده وروسته د مومن خان او د پاچا د لور په قبر شنه نهالان راشنه شول.

دا و د مومن خان او شيرينو د داستان لنډيز.

اوس اوس د حماسې ياد شوي معيارونه هر معيار پر دې کيسه تطبيقوو.

په دې ليکنه کې د مومن خان د بهادرۍ، مېړانې او پهلوانۍ کيسه بيان شوې ده.

- د حيواناتو نقش په افسانو کې راغلی، لکه د پاچا لور اوښ او خپله د مومن خان د اس يادونه.
- په دې ليکنه کې مومن خان له ډېر خطرناک او وحشتناک ښامار سره مقابله کوي.
- سره له دې چې په حماسه کې د ځينو بوټو او مېوو د جادويي حالت څرګندونه کېږي خو په دې کيسه کې د

Downloaded from: ketabton.com

ضـرورت د نشـتوالي لـه مخـې د بوټـو چنـد ان يادونـه نـه ده راغلې.

- پـه دې کيسـه کـې مـومن خـان لـه ښـامار او ځينـو پهلوانانو سره په جګړه کې د يـوه مـافوق الطبيعي انسـان پـه توګه راڅرګند ېږي.
- سره له دې چې د حماسې اتلان د خپل ژوند پـه برخـه کې له خپل يو ضد قهرمان سره مخامخېږي، خو پـه دې کيسـه کـې مـومن خـان لـه داسې معـادل متضـاد قهرمـان سـره نـه مخامخېږي، يوازې زبردست خان (دده خپل اخښـى ) څه ناڅه د يو ضمني مخالف قهرمان پـه توګـه راڅرګند ېږي او پـه پـاى کې په ناخبرۍ کې د مومن خان د مرګ سبب کېږي.
- مومن خان هم د حماسو د نورو اتلانـو پـه شـان پـه يـوه اوږده او خطرناک سفر تللى او نږدې دولس کالـه يـې مسـافري کړې او له سختو ستونزو او کاميابيو سره مخامخ شوى دى.
- مومن خان په دې کيسه کې داسې اخلاقي معيارونـه او ارزښـتونه قـايموي چـې هغـه ډېـر لـوړ ملـي او معنـوي ارزښتونه ګڼل کېږي، لکـه لـه شيرينو سره د وفـا لـوز، تـوره، مېړانه، سپېڅلتيا او داسې نور ارزښتونه.
- د مـومن خـان او شـيرينو پـه کيسـه کـې ډېـرې مهمـې صحنې شته خو تر ټولـو هيجـاني صـحنه همغـه د مـومن خـان د

Downloaded from: ketabton.com

مـرګ د پېښـې جريـان دی چـې پـه نـاخبرۍ کـې دی ورسـره مخامخېږي او زبردست خان هم د خپلې غلطۍ د جبران پـه خاطر ځان وژني.

- په حماسه کې ځينې داسې پېښې رامنځته کېږي چې دروغ، چل، وفرېب کاري په کې وي، په دې کيسه کې هم هغـه وخت چې مومن خان پـه هندوستان کې و لـه وطنه چې ورتـه کوم شخص راغی د شيرينو پـه باب يې ورتـه دروغ وويـل چې هغه يې ورکړې ده، همدا دروغ ددې سبب شول چې مومن خان له هندوستانه د کور پر لوري حرکت وکړ او پـه شـپه کـې ځان د شـيرينو کـور تـه رسـوي او بـالاخره دا کـار دده د مـرګ سـبب ګرځي.

- په دې کيسه کې هم د نـورو حماسـو د کيسـو د اتلانـو پـه شان ساده ګي، اقتدار او عظمت ليدل کېږي او مـومن خـان د صداقت او عينيت يو ښه سمبول ګڼل کېږي.

- د مومن خان کيسه هم د نورو حماسو پـه شان لـه ښـه او عـالي سـبک څخـه برخمنـه ده، د فـورم يـا شـکل لـه پلـوه دا داستان پښتو شفاهي داسـتان دی او يـو منثـور داسـتان دی، خوله په خوله له يو نسل څخه بل ته انتقال شوی او دا وريانـت يې محمد ګل نوري نقل کړی دی.

البته په دې داستان کې ځـای پرځـای ځينـې منظـومې نـارې راغلـې چې داستان ته يې رنګيني ورکړې، سربېره پـر دې پـه دې کيسـه کـې د

Downloaded from: ketabton.com

مومن خان او شیرینو د مینې کیسې د داستان غنایي برخه بډایه کړې ده، خو که په مجموعي ډول د مومن خان او شیرینو دا داستان تحلیل شي، نو په نتیجه کې ویلای شو چې دا داستان یو تراژیدي حماسه ده، خو مکمله تراژیدي ځکه نه ده چې د تراژیدی ټولې ځانګړنې نه لري، خو لکه د مخه چې مو وویل د حماسې اکثره او زیاتره ځانګړنې لري خو دا چې دا حماسه په پای کې په سختې تراژیدی، نهیلی او ناکامی پای ته رسېږي، نو د حماسې تراژیدیکه خوا هم ورسره ملګرې شوې، د داستان وروستی برخه لکه د رستم او سهراب تراژیک داستان ته ورته ده چې پلار خپل زوی په ناخبری کې له منځه وړي، دلته هم مومن خان د شیرینو د ناخبری په وجه د هغې د ورونو په تېره د زبردست خان له خوا وژل کېږي او داستان په غم پای ته رسي، دا چې نور داستان د مومن خان له بهادری، مېړانې، جنګونو او پهلوانی ډک دی، نو په دې وجه یې د حماسې زیات خصوصیات پوره کړي دي. د حماسې د عامو او خاصو ځانګړتیاوو په پام کې لرلو سره ویلای شو د مومن خان او شیرینو داستان یوه شفاهي منثوره تراژیکه حماسه ده چې د نړۍ له ځینو نورو مطرحو حماسو سره سیالي کولای شي.

Downloaded from: ketabton.com

# نیو لیک

سرلیک مخ

سریزه.................................................................... ۱

په لرغوني پښتو ادب کې غزل.................................................... ۳

په تذکرة الاولیا کې د لرغونتوب نښې.......................................... ۷

((ځانځاني ښامار))د هر چا په خپل ځان کې.................................... ۱۴

تاریخ مرصع او څو نومیالۍ پښتنې بیبیانې..................................... ۲۵

د خوشال په یو غزل کې اخلاقي پندونه.......................................... ۳۰

د خوشال په غزل کې بزم او رزم.................................................. ۳۵

د خوشال په یوه قصیده کې پښتني ننګ.......................................... ۴۰

د غلو ډیوه.............................................................................. ۴۲

((ادبي بحثونه)) د تحقیق د اصولو له نظره....................................... ۴۹

د مومن خان او شیرینو کیسه یوه تراژیکه حماسه................................ ۵۷

Downloaded from: ketabton.com

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

Downloaded from: ketabton.com



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هیواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (حاجي محمد زمان لغماني) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته يې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ يې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هیوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

Downloaded from: ketabton.com



## د ارين يون لنډه پېژندنه

اصلي استوګنځی: ښېوه، ننګرهار

اوسنی استوګنځی: کابل

زوکړه: ۱۳۴۹ ل کال

زده کړه: امنه فدوي لېسه، کابل پوهنتون،
پښتو څانګه، لیسانس او ماستري

**دندې:**

د امـنه فـدوي لېـسې ښوونکـې، د امهات المـومنين پوهنـتون اسـتاده، په ختيځو ولايـتونو کې د ملګرو ملتو په دفتر (يوناما) کې د ښځو د برخې مسوله، د ناهـيد مجلې بنسټګره، د بېړنـۍ لويې جرګې، د اساسي قانون د لويې جرګې، د امن ګډې جرګې، د سولې د مشورتي لويې جرګې، د دوديېزې لويې جرګې، او د نورو مهمو جرګو غړې،په ولسي جـرګه کـې د ننګرهار د خلکو استازې (۱۵)مـه دوره، په ولسـې جرګه کې د ننګرهـار د خـلکو اسـتـازې (۱۶)مه دوره.

**اثار :**

- لنډيو ته يوه لنډه کتنه
- د ورېمو بهير ، ۱۳۷۷ل کال، چاپ.
- په ننګرهار کې فرهنګي تولنې، ۱۳۹۳ل کال چاپ.
- ځانځاني ښامار د هر چا په خپل ځان کې (همدا اثر)

د افغانستان ملي تحريک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۱۲۰

**Get More e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com - ebooks library**